

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم

مکمل او مدلل

دموز و مسئلي

مؤلف

مولانا محمد رفعت (قاسمی)

پښتو ژباړه:

عبدالله ګل (ریان)

خپرونکی



مکتبہ رشیدیہ

سرکی روڈ کوئٹہ، فون: ۲۶۶۲۲۶۳

دکتاب پیژندنه

نوم ---------------- دموزومسئلې

مؤلف ----------- **مولانا رفعت قاسمی**

پښتوژباړه ---------------- عبدالله گل (ریان)

دترجمی او کمپوز چاري --- دنورالقرآن اداري دترجمې او کمپوز ځانګه

کمپوزر ------------------------- عبدالله (عزام)

تصحیح او سمون -------- ابوخالد مولوی عبدالاحد

خپرونکی -------- مکتبه رشیدیه سرکی روډ کویټه

چاپ ځای ------------------------ لاهور

شمیر -------------------------- ۱۵۰۰

چاپونکی ----- محمد ساجد - موبائل - 03337825484

ضروري یادونه

یواځې لوی خدای ﷻ هغه ذات دی چې ټول کارونه ئې په پوره معنی بشپړ او مکمل دي خوانسان هغه ناقص او بې توانه موجود دی چې هیڅ یو کار ئې هم بې نمګړتیا نه وي.

ګرانو لوستونکو! که تاسو ته دلیکنې، تصحیح، چاپ، جلد سازۍ او دا رنګه په هره برخه کې کومه غلطي په نظر درغله دمهربانۍ او بشري تقاضا له مخې یې موږ ته زموږ په نمبر یا ادرس خبر راکړی. تر څو په دوهم چاپ کښې ئې اصلاح کړو. او تاسو ته لوی خدای ﷻ اجر او ثواب درکړي.

د مکتبه رشیدیه سرکي روډ کوټه لخوا

فون: 081-266223

موبائیل: 0333-7825484

فهرس

مخ

فهرس

فهرس

دفهرس پای

اللهم اعنا علی ذکرک وشکرک وحسن عبادتک واجعلنا من
المسلمین ومن الذین لاخوف علیهم ولاهم یحزنون

دليکوال خبري

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله محمدﷺ وعلى اله وصحبه واهل بيته اجمعين.

الحمدلله يوولسم کتاب (مکمل ومدلل مسائل خفين) ستاسو په وړاندي دي په هغه کښي په موزو باندی دمسح کولو دلائل ، دمسح کولو حکمت ، دمسح تعريف ، دموزو ډولونه ، په کومو موزو دمسح کولو اجازه ده ، په سفر اوحضر کښي دمسح موده اواحکامو ، عامي موزی ، په پګړی دعمامه) ،برقعه اوپه سرو سيمو کښی دمسح کولو مسايل ، دمسح شرطونه ، دمسح فرضونه ، سنتونه اومستحبات اودمسح دباطل کيدلو صورتونه اونور راغلي دي .

په پلستر دمسح کولو دلايل ، دمسح دصحيحوالی شرطونه ، غتبي دانی ، وړی داني ، غوځ شوی ای ، زخم ، پټی ، دهډوکو ماتيدل اوبيا پلستر کول اوپه نورخايونودمسح کولو مسائل . لنډه داچی په دي کتاب کښي نژدي دري سوه مسئلی راغلی دي . موږ سره له دي چي په خپله کم عملی ، بی بضاعتي اوکم پوهيدلو اقرار کوو اودمسئلو معامله هم دقيقه ده ، روژی پوهي ته اړتيا ليدله کيږی اودلته علمی مسطح اومعلومات هم محدود دي خو دالله ﷻ په توکل اوتکيي دلويو مفتيانو دويناوو په يوخاى کولو چي له کتابونو څخه يي په خورا احتياط اوډير فکر سره دموضوع متعلق (مفتي به اقوال) يوځاى شوی دي بيا هم دغلطی اوتيروتنې احتمال نه ردوو . نو له اهل علم جنابانو څخه هيله ده چي که يي څه تيروتنه تر نظر ورغله دااحقر دی خبر کړی ترڅو يي په راتلونکی کي اصلاح کړو .

يا الله ! يوازی په خپل فضل اوکرم داسعی او زيار بريالی کړی اودبيا لپاره دخدمت توفيق راکړی . امين

ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم **محمد رفعت قاسمي غفرله ، دديوبند ددارالعلوم (يو ،پي انډيا) دتدريس خادم**

د (۱۴۱۵) ه ق کال دمحرم الحرام لومړی نيټه دجون ۱۲ کال ۱۹۹۴ يکشنبه ،

دجامع شریعت اوطریقت ، فقیه الامت ددیوبند ددارالعلوم دستر مفتی ،سیدي حضرت مولانا مفتی محمود حسن صاحب دامت بر کاته چشتی ، قادری ، سهر وردي ، نقشبندي .

تصدیق

الحمد لله وحده ، والصلوة والسلام علی من لانبی بعده ، اما بعد !

ددارالعلوم مدرس محترم مولانا محمدرفعت قاسمي صاحب ، دپخوانیو تالیفاتو په څیر ترسترگو لاندی کتاب (مسائل خفین مع جبیره) کښي یي په اړوند موضوع کښي دفتاوا وولږ مختلفو کتابونو څخه مسائل راټول کړی دي . په امت یي احسان کړی دي . په اختلافی مسائلو کښي یي غوره قول (قول راجح) او وړباندی فتوا شوی خبره رااخستي ده . الله تعالی شانه دي دخیر جزاء ورکړی او خواص اوعوامو ته دي له دي کتاب څخه دستري گټي اخستلو توفیق ورکړی . مولف دی الله ﷻ ددارینو په ترقیو ونازوي ، الله ﷻ دي ورته دنجات ذریعه کړی اوالله ﷻ دی ورته په راتلونکی کښي دخدمت نوره موقع ورکړی . آمین

العبد محمود غفرله : دچهته مسجد هستوگني ددیوبند دارالعلوم ۱۴۱۵ ه ددیوبند

دمفتی حضرت مولانا مفتي نظام الدين صاحب دامت برکاته

ارشاد عالی

بالله سبحانه !

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على رسوله محمد وعلى اله وصحبه اجمعين ، وبعد !

ددي کتاب خورا ته دټول کتلو فرصت ونه موندل شو خو فهرست مي په خورا غور سره وکوت ، له عنوانونو څخه په غالب اټکل راته اندازه ولګيدله چي خورا اهم اوعمده مضمونونه لري ، خواص اوعوامو ته بی کچي ګټور کتاب دي .

الله دي داکتاب هم په قبلولو سره ونازوي چي خواص ، عوامو اوټولو ته ېي ګټور ثابت کړی ، آمين ثم آمين ، فقط

کتبه العبد نظام الدين

ددیوبند ددارالعلوم مفتی

۱۴۱۵\۶\۲۲ هج ۱۹۹۴\۱۲\۲۸ م

دحضرت مولانا مفتی محمد ظفیر الدین صاحب ددیوبند دفتاوی مرتب او دارالعلوم مفتي .

دقدر وړ نظر

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى .

موزې په سرو هيوادونو كښي په عامه ډول پښو كيږي له هغوی څخه دپښو خوندی توب مقصد دي ، مقيم ته ديوي ورځي اومسافر ته دردريو ورځو وړباندی دمسح کولو اجازه شته ، همداشان که زخميانو په تپونو باندی پټي تړلي وي اوداودس کولو اوبو ورته زيان رساوو وړباندی دمسح اجازه شته .
اړتيا داده چي داټولی مسئلي يوځای اوپه کتابی توګه خپري شوی وای ترڅو خلګو ته دموزو او زخمونو دمسح کولو ټول مسائل په يوه کتاب کي راغلی وای .
الله ﷻ دي مولانا قاري محمدرفعت قاسمی صاحب ، دديوبند ددارالعلوم مدرس ته نيک اجر ورکړی چي په دي مسئلو کښي يي هم دنورو په کتابونو په څير له مستندو کتابو څخه په راټولولو کی هڅه کړيده او الله تعالی دي بريالی کړی دي .
داکتاب په همداسي ټولو مسئلو مشتمل دي ، او الحمدلله مسئلی له حوالو سره ليکلی شوی دي ، ربښتياهم چي داقيمتي ذخيره راورسيدله موږ يي له ډيرو کتابونو څخه بي نيازه کړو . الله ﷻ دي قبول کړی اومولف ته دي ددواړو جهانونو خوبئ وربه برخه کړی ، آمين

دعا غوښتونکی . محمد ظفير الدين دديوبند ددارالعلوم مفتی دجمادي الآخر ۱۴۱۵هج ۱۹۹۴

دفقیه النفس حضرت مولانا مفتي سعیداحمد صاحب مدظله العالی پالن پوري ددیوبند ددارالعلوم دستر محدث .

تقریظ

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی ، اما بعد !

ددیوبند دارالعلوم ، وفاضل ، جناب مولانا محمد رفعت قاسمی صاحب ، بریالی دي چي الله تعالی دهغه دقلم له برکت څخه ډیر کتابونه راخرگند کړی دي ، له هغوی څخه امت ته خورا زیاته گټه اوبرکت رسیدلی دي ، کتابونه یي خورا منلی او مقبول دي ، دهغه په پرله پسي هڅو کښي داده نوي کتاب دمشاهدي په ډگر کښي وځلید ، دهغه نوم دي (مکمل ومدلل مسائل خفین) هغه یوازی مکمل اومدلل نه بلکه (مفصل اومدهن) هم دي .

دعاده چي الله ﷻ دي داکتاب هم دنورو په څیر په عامه اذهانو کښي مقبول وگرځوي اومؤلف ته دي ددارینو جزیل اجر ورکړی (آمین) .

په موزو باندی مسح ډیره باریکه خبره ده خو دجورابو مسئله مغلقه ده زمونږ په هیواد کښي چي دتارونو یا نیلون جورابی رواج دي هغوی نري دي . دمسح شرائط ورباندی پوره نه دي ، په هغوی باندي په اتفاقي ډول مسح کول جواز نلري .

نن سبا ، بیباکه ځوانان په تیره عرب زلمی په هغوی مسح کوي دا خورا ستره غلطی ده ، دهغوی اودس نه کیږي اولمونځ یي هم صحیح نه دي په همداسي چا پسي لمونځ کول هم سم نه دي .

خو که همداجورابي مجلدی کړی یعنی په تلی او سربیرنه برخه څرمن ورکړی بیا دموزو حکم لري اومسح وربانـدی سمه ده ، که یـوازی یـی تلیـو تـه څرمن ورکړی بیا هم وربانـدی مسح نـه صحیح کیږي ، مولانا مفتی محمد شفیع دیوبندی صاحب په خپله رساله (نیل المارب فی المسح علی الجوارب) کښي لیکي .
(درقیق منعل په اړه دحنفی مذهب په پخوانیو کتابونو کښي په منصومي توګه کوم حکم موجود نه دي ، خو دکلام لـه دلالت څخه څر ګندیږي چي په رقیق منعل باندي مسح جواز نلری (فتاوی دارالعلوم قدیم ، ص ۳۸ ج ۱،۳) .
زموږ په هیواد کښي دارواج هم شته چي په معمولی جورابو باندی دڅرمني پیچني (پای تابی) راتاووي ، هغه لکه سلیم شاهي جوړي داسـي ښکاري، داپایتـابی (پیچنـي) دجورابـو دخونـدی سـاتلو لپـاره وربانـدی وپیچـی ، داپایتابی له جورابو څخه بیلی وي ، څیني یي ورسره یوځای کوی خوبیا هم وربانـدی مسح نه کیږي ، هغه مجلدی نه دي ، دمجلدکیدلو لپاره کافی داده چي دټولی پښي په اندازه (تر بیـږیو) باید څرمن ورکړي شي ، که یوازی په تلی څرمن ورکړل شی هغه دمنعل کیدلو اصل صورت دي . که پایتابی ورکړی هم منعـل دي ، مفتـی شفیـع صـاحب پـه دي هکلـه پـه خپلـه رسـالـه کښـي ښـه وضاحت لري .
په دي کتاب کښي پـه دي مسـله پـه تفصیـل خبره شـوی ده خـوداچي دامسـله مهمه ده مادامناسبه وګڼله چي دکتـاب دتفصیـل ، لنډیز پـه خپلـه الفاظوکښي راوړم ترڅو دلوستونکو په ذهن کښي داحکم ښه ځای ونیسي په پای کښـي بیـا دعا کوم اودالله ﷻ فضل ته مي هیله ده چي داکتـاب مقبـول وګرځـوي . خلګ ورڅخه فـیض اوبرکت واخلی اومصنف (دام مجده) تـه دخیـر جزا ورکړی ، والسلام

کتبه سعید احمد عفا الله عنه پالن پوری
ددیوبند ددارالعلوم خادم
۲۲ رجب ۱۴۱۵ هج ۲۶ دسمبر ۱۹۹۴

بسم الله الرحمن الرحيم

عن المغيرة قال مسح رسول الله ﷺ على الخفين فقلت يارسول الله ﷺ نسيت قال بل انت نسيت بهذا امر ربي عزوجل (رواه احمد وابوداود)

په موزو باندي دمسح ثبوت

مسئله : په موزو باندی دمسح کولو جواز په ډیرو حدیثونوباندي ثابت دي نژدي اتیاتنه سترو صحابه وٌ رضی الله عنهم بیان کړي دي چي رسول الله ﷺ مسح کړي ، اجازه یي ورکړي ، دمسلمانانو په اجماع اوتواترثابت ده ، که څوک تري انکار کوي هغه داهل سنت والجماعت له ډلي څخه وتلي دي (طهور المسلمین ص ۳۴ فتاوی دارالعلوم ص ۲۷۴ ج ۱ ددرمختار په حواله دتفصیل لپاره وګوري : نصب الرایه ص ۱۹۴ ج ۱ معارف السنن شرح ترمذی ص ۳۴۸ ج ۱ ، کتاب الفقه ص ۲۱۹ ج ۱) .

مسئله : په موزو مسح کول له حدیث څخه ثابت دي ، ثبوت یي له (سنت مشهوره) څخه دي اوپه موزو باندی دمسح کولو راویان تراتیا تنو زیات صحابه دي په هغوی کښي عشره مبشره هم شامل دي (فتاوی دارالعلوم ص ۲۷۴ ج ۱ ، درمختار ص ۲۴۵ ج ۱) .

مسح په موزو باندي روا ده

مسئله : چاچي دڅرمني موزی په پښو کړی وي ، اودس ي کړي اوپښي یي ریولي وي دبیا اودس کولو په وخت کښي وربانډی دموزو ایستل اوپښي ریول فرض نه دي هغه ته جائز دي چي داودس کولو په وخت دپښو دمینځلو ه ځای وربانډی مسح وکړي . (مظاهر حق ، ص ۴۶۲ ج ۱)

مسئله : که دبل چا په موزو څوک مسح وکړي صحيح ده خو نيت به يې دموزي دمسح وي (رکن دين ، ص ٢٧ دعالمګيري په حواله)

آيا په موزو مسح کول دقرآن دآيت خلاف ده ؟

په موزو باندي مسح کول په ډيرو حديثونو چي دتواتر حد ته رسيږي ثابت د
داستذکار په نوم کتاب کی دموزو دمسح په هکله نژدي له څلويښتو صحابه
څخه احاديث رانقل کړی دي .
حسن بصري (رحمه الله) وايي چي اويـاتنو صحابه وو راتـه بيـان کړي دی چې
رسول الله ﷺ په موزو باندي مسح کړی ده .
هغه صحيح حديث چي راغلی دي دجرير بن عبدالله الجبلی (رض) روايت د
کوم چي امامانو له اعمش (رض) څخه روايت کړی دي . هغه لـه ابراهيم (رض
هغه له همام (رض) اوهغه له جرير (رض)څخه روايت کړی دي ، وايي .
جرير (رض) بولي وکړي ، اودس يي وکړ اوپه خپلو موزو يـي مسح وکړه ، کلا
چي خلګو ورته وويل (تاسي داسي مسح وکړه ؟) .
لوړی وويل : هو ! ما رسول الله ﷺ وليـد ، بولي يي وکړي ، اودس يـي وک
اوپه موزو يي مسح وکړه).
امام زيلعی رحمه الله ددي حديث يا دونه په خپل کتاب (نصب الرايـه) کښې
کړی ده وايي داحديث محدثينو ته خورا منلي دي . خکه جرير (رض) دمائد
دسورت تر نزول وروسته مسلمان شوی دي . دمانده سور° هغـه سور° دي چې
. په هغه کښي په اوبو باندی داودس کولو حکم شوي دي (يا ايها الذين آمنوا ا
فمتم الى الصلوة فاغسلوا وجوهکم وايديکم الى المرافق (مائده :شپږمه پاره) .
په دي ايت کښي په صراحت سره ددواړو پښو پريمنځل بنودل شوی دي خو پ
کثرت سره احاديث ددي حکم خلاف دي اوداحاديث ددي ايت ترنزول وروسته

ویل شوی دی ، نو داامر ورڅخه معلومیږي چي الله تعالی دپښو مینځل په هغه صورت کښي فرض کړی دی چي موزي په پښو نه وي ، که په پښو موزی وي مینځل یي فرض نه دی ، دمینځلو په ځای په موزو مسح کیږي .
په داړول حدیثونو کښي یو هم هغه دي چي په بخاری کښي له مغیره بن شعبه رضی الله عنه څخه روایت شوي دی (رسول الله ﷺ دحاجت درفع کولو لپاره بهر ووت مغیره (رض) دځرمني په یوه لوښي کښي اوبه واخستلی اوتر شا وریسي لاړ ، رسول الله ﷺ چي دحاجت له رفع کولو څخه فارغ شو ، مغیره (رض) اوبه اچولی ، رسول الله ﷺ اودس وکړ اوپه موزو یي مسح وکړه .
امام بخاری رحمه الله یوبل حدیث هم له مغیره (رض) څخه روایت کړی دي چي وایي :
لاره په یوه سفر کښي له رسول الله ﷺ سره ملګری وم ، ماوغوښتل درسول الله ﷺ موزی یي له پښو څخه لیري کړم ، رسول الله ﷺ راته ویل : (هغوی پریږده ماپښي مینځلي وي (اودس مي کړی وو) او دوی مي په پښو کړي وي) بیا رسول الله ﷺ وربااندی مسح وکړه ، همداسي نور احادیث هم شته چي بخاری ، مسلم او نورو راویانو روایت کړي دي . (کتاب الفقه ص ۲۲۰ ج ۱) .

دمشتبه موزو حکم

:موزو دپه پښو کیدلو په صورت کښي داثابته ده چي مسح ورباندي کافي ده وس داحکم له موزو څخه جرابو ته هم رسیدلی دي : وایي جرابی دموزو حکم ري ، خو خبره دلته ده چي جرابي دموزو حکم لري کنه ؟ په جرابو کښي موزو شرائط تحقق مومی کنه ؟
لما٬ دکلیي قاعدی په اساس چي وایي (الیقین لایزول بشك) دپښو اصلی فریضه ینځل دي ،داشتباهي شي له پاره نه پریښودل کیږي ، دهمدی احتیاط له له امام مالک اوامام شافعی رحمه الله دڅخین (پنډو) جرابو لپاره هم مجلد

کيدل شرط بللی دی منعل (يوازی تلی ته ځرمن ورکول) کافی نه ده ، دامام اعظم رحمه الله په مذهب کښي په يوه روايت کښي راځي چي څخين (دومره پنډی جرابي چي اوبه تري نهٔ تيريږي) به هم بشپړی ځرمن لری که تربيډيو پوري ځرمن نه وه مسح ورباندي جايز ده. (امدادالمفتين ص ۲۰۷ بهشتي زيور ص ۷۱ ج ۱).

په موزو باندي دمسح حقيقت

(مسح علی الخفين) په عربی ژبه کښي (خف) دموزي په معني دي دتثني لپاره يي د(خفين) لفظ دي نوداسي ويل کيږي چي پرته له عذره په يوه موزه مسح جائزه نه ده موزه له دي امله دخف په لفظ يادېږي چي خفت يعني سپکوالی او سهولت دي ځکه دمينځلو په اعتبار مسح سهل اواسانه ده ، الله تعالی ته معلومه ده چي په موزه کښي سهولت دي اودرسول الله ﷺ په ژبه اعلان شوی ده . داسي هم ده چي په موزو باندی دمسح کولو سهولت يوازی دمحمدي امت خانګړتيا ده . (درمختار ص ۳۲ ج۳)

دشريعت په اصطلاح موزه څه شي ته ويل کيږي ؟

په شريعت کښي خف (موزه) هغه شي ته ويل کيږي چي دځرمني په څير له څه شي څخه جوړه شوی وي . تر بيډيوي پښي پوښلي وي ، له پښو سره لګيدلي وي اواوبه نه تري تيريږي . (معارف السنن ص ۳۲۱ ج ۱) دخف ترجمه عام موزه نه ده (فيض الباري ص ۳۰۲ ج ۱) .

په موزو باندي دمسح تعريف

په لغت کښي مسح (په يوه شي لاس تيرول) که څوک په څه شي لاس ووهي ويل کيږي (مسح عليه) يعني هغه په فلانی شي مسح وکړه .
دشريعت په اصطلاح له مسح څخه مقصد لوندوالی رسول دي ، دلته لمدوالی څخه مقصد په موزو په خانګړي طريقه سره ده چي بيا به بيان شي پ

اصل کښي په موزو باندي مسح کول يوجائز امر دي يعنی شارع (ع) سړو اوميرمنو ته اجازه ورکړی ده چي په سفر اوحضرکښي په موزو مسح کولای شي داحکم يورخصت دي چي شارع (ع) مکلفو اشخاصو ته رواکړی دي .

درخصت معنی سهولت (اساني) ده خوپه شريعت کښي هغه امر دي چي ديوه شرعي دليل په خلاف يي بل دليل هم وي او دلومړی په مقابل کښي ثابت وي .

خو د(رخصت) په مقابل کښي د(عزيمت) لفظ دي هغه دادي چي په يوه داسي دليل ثبوت وي چي مقابل دليل ونلري .

په موزو باندي مسح ، کله کله واجب ده ، صورت يي دادی چي که دموزو په ايستلو اودپښو په مينځلو کښي دلمانځه دقضا کيدلو انديښنه وه په دي حال کښي فرض ده چي (په اودس کولو کښي) دپښو دمينځلو په ځای په موزو مسح وکړی .

يا مثلا (وقوف عرفه) دحج په موقع په عرفات ددريدلو په فريضه کښي که دوخت دتيريدلو ويره وه نو لازمه ده چي په موزو مسح وشي اوپښي ونه مينځل شي .

يا دومره اوبه وي چي پښي ورباندي نه مينځلی کيږي نو لازمه ده چي په موزو باندي مسح وکړي .

له داسي خايونو هاخوا په موزو باندي مسح کول يو رخصت يا جايز امر دي اودپښو مينځل تر مسح غوره ده . (کتاب الفقه ص ٢١٨،٢١٧ ج ١)

په موزو باندی په مسح کولو درسول الله ﷺ عمل

په دي هکله دسفر السعادت ليکوال ليکي :

(درسول الله ﷺ عمل له تکلف څخه خالی وو يعنی په دوو کښي يي ديوه امر خاص اهتمام نه کاوو که به يي موزي په پښو وي دپښو دمينځلو لپاره يي

موزى نه ايستلي كه به يي موزى په پښو نه وي نو يوازى دمسح كولو لپاره يي موزي نه په پښو كولى .
غوره خبره دامعلوميږي چي دنبوي سنت (اتباع) وشي يعني دموزو دمسح په هكله هغه له (تكلف څخه خالى) صورت باندي عمل وشي كوم چي رسول الله ﷺ كاوو . (مظاهر حق ص ۴۶۳ ج ۱)

مسئله :رسول الله ﷺ دځرمني په موزو مسح كوله (فتاوى دارالعلوم ص ۲۶۹ ج ۱) .

په موزو باندي دمسح كولو په هكله دامام اعظم رحمه الله قول

مسئله : په اودس كولو كښي په موزو مسح كول رخصت يعنى په اسانى عمل كول دي خو په موزو باندي دمسح كولو په ځاى دپښو مينځل عزيمت يعنى غوره ده .
داودس كولو په وخت كښي موزي ايستل اوپښي مينځل (په تيره په ساړه موسم كښي) مشقت دي . له همدي امله شارع (ع) يوازى په خپل امت باندي مهرباني نه بلكه ستر احسان اوانعام كړى دي . كه دمحمدي امت څوک لـه دي احسان څخه انكار كوي نو ترهغه به بل څوک ناشكره اوبي قدره وي .
په هدايه كښي ليكي څوک چي په موزو باندي دمسح كولو قائل نه دي هغه (بدعتي) دي كه څوک درباندي قائل دى اوپه عزيمت (اولى اوافضل) باندى دعمل په نيت په موزو مسح نه كوي اوپښي مينځي ثواب يي ورته رسيږي امام اعظم رحمه الله فرمايي : زه ترهغه وخته په موزو باندى دمسح قائل نه وم ترڅو چي دورځي په څير روښانه احاديث راته څرگند نه وو . (مظاهر حق . ص ۴۶۲ ج ۱ اودرمختار ص ۳۵ ج ۱)

له مسح څخه دمنکر حکم

امام اعظم رحمه الله ته خلگو عرض وکړ چي داهل سنت والجماعت علامه څه ده ؟

امام صاحب وویل : ابوبکر اوعمر رضی الله عنهما ترټولو صحابه وو غوره گڼل ، له عثمان اوعلی (رض) سره مینه لرل اوپه موزو باندی مسح کول جائز بلل ، په موزو باندي دمسح کولو منکر له اهل سنت والجماعة څخه وتلی دي (طهور المسلمین ص ۳۴) .

په موزو باندی دمسح په سراوراز

داچي په اودس کولو کښي دهغو غړو مینځل دي چي ښکاره دي اوژر ، ژر وربانډی گرز اودوړي کښیني ، دموزو په پښو کولو پښي پټیږي .

په عربانو کښي دموزوپه پښو کول عام عادت وو ، دهر لمانځه په وخت کښي هغو ی ایستل اوپښي مینځل تکلیف وو ، نودهغوی دپه پښو کولو په حال کښي مینځل ورڅخه ساقط شول اوامریي وکړ چي په موزو دپاسه مسح کوئ ترڅو مو دپښو مینځل یاد وي ، مسح دپښو دمینځلو یوه نمونه ده اوبل مقصد پکښي نشته (اسرار شریعت ص ۷۹ ج ۱) .

دموزو دلاندی خوادمسح نه کولو وجه

که دموزو په لاندینی برخه دمسح کولو جواز واي ، ډیر حرج به وو ،څکه بیا وربانډي گرځیدل ددي باعث وو چي وربانډي خاوري کښیني یعني ژر ناولي شي (اسرار شریعت ص۸۰ ج ۱) .

په شریعت کښې نفس ازاد پریښودل شوي نه دي

په شریعت کښي چي تیسر (اساني) راغلی ده هلته په عبادت کښي دمطلوب شي په ترک کولو کښي نفس ازاد پریښودل شوی نه دي . لهٔ همدي امله شارع (ع) دموزو دمسح په هکله هم دري خبري ټاکلي دي :

اول : دمسح موده : دمقیم لپاره یوه ورځ اوشپه اودمسافر لپاره دري ورځي اوشپي . داهغه موده ده چي انتظام اوالتزام يي کیدلای شي دالتزام همداموده دتکلیف په کچ دمقیم اومسافر په حال سمه معلومه شوي ده .

دوهم : شارع (ع) داشرط اینبي دي چي موزي به دپاکي په حالت کی په پښو کیږي چي دپښو کیدلو په وخت کښي يي دپاکي خیال وي او دگرز او دوړو اثر پکښي کم وي اوداپاکي په هغي پاکي قیاس کړی ، همدا سي پرتله کول په نفس باندي خورا مثبت اغیز لري .

دریم : دریم حکم يي داکړي دي چي په موزو دپاسه دي مسح کوي ، ترڅو دپښو مینځل یا د ته راشي اودايي نمونه شي .

علی رضی الله عنه وایي (که په دین کښي دعقل دخل وای نو په موزو باندي تر پاسني برخه کښتني برخه مناسب وه) .

زه وایم داچي مسح دمینځلو یوه نمونه ده اوپکښي له همدي پرته بل مقصود نشته او که دلاندی ورباندي مسح کیږي په لاره يي دناولتیا اټکل غالب دي ، نو دعقل غوښتنه داده چي له پاسه ورباندي مسح وشي .

علی (رض) دشریعت په اسرارو خورا پوه شخص وو ، داهغه دخبرو اوخطبو ښکاره ده خوله دي خبري يي موخه داده چي خلگ په دین کښي مداخله ونکړي .داسي نه شي چي عوام الناس خپل دین ته زیان ورسوي .

(حجة الله البالغه ص ۲۸۰ ج ۱ اسرار شریعت ص ۸۰ ج ۱) .

په موزو باندي په مسح کولو کښي عقل دخل نلري

علی (رض) وایي : که په دین کښي دعقل دخل وایي نو دمسح لپاره دموزو تر برني برخی لاندیني برخه ور وه ، خو مارسول الله ﷺ ولید چي په خپلو موزو یي په پورتني برخه مسح وکړه (ابو داوٗد)

تشریح : (ور وه) یعني دموزي لاندیني برخه (تلی) ناولی وي نو عقلا خوداغوره ښکاري چي په هغي برخه مسح وشي ځکه هغه باید پاکه شي ، خو په شریعت کښي عقل څه دخل نه لري ؟ عام عقل خولاڅه کوي خاص اوبشپړ عقل به دشریعت تابع وي هوښیار اوعاقل سړی به په هرصورت دشریعت متابعت کوي .

کفار ، ملحدین اواهل هوا چي لار ورکي دي . دگمراهی سبب یي دادي چي دعقل متابعت کوي اودعقل دغوراوي ښکار کیږي (مظاهر حق ص ۴۶۸ ج ۱) .

مسئله :دموزی تلی (لاندینی برخه) چي له ځمکي سره لگیږي مسحورباندي جائزه نه ده (کتاب الفقه ص ۲۲۶ ج ۱) .

په موزو باندي دمیرمنو مسح کول

مسئله : په موزو باندی مسح کول ، دسړی ، میرمني او خنثی(نرښځی) ټولو لپاره جائزه ده (درمختار ص ۴۱ ج ۱) .

مسئله : په موزو باندی دمسح کولو دجواز اسباب ددواړو (سړی اومیرمنو) لپاره یوډول دي . (عالمگیري ص ۷۰ ج ۱)

مسئله : دحائضي اوجنب لپاره په موزو مسح کول جواز نلري يعنی په چا چي غسل واجب وي که هغه دحيض ، نفاس له ناولتياوي اوکه لـه جنابت څخه په موزو مسح ورته جواز نلري ځکه دټول بدن مينځل ورباندی فرض دي ، خو په مسح کولو همدا فرض نه پوره کيږي (درمختار ص ۳۶ ج ۱) .

مسئله : په چا چي غسل کول فرض وي اويا هغه چي اودس وکړي اوموزي په پښو کړي خو وروسته غسل ورباندي فرض شي دهغه لپاره په موزو مسح کول جواز نلري .

مسئله : که چا اودس وکړ موزی يي په پښو کړي ، جنابت ورتـه ورسيده . دومره اوبه يي درلودي چي اودس يي کولای شوای خو غسل ورباندي نه کيده اودس دي وکړي په موزو دي مسح نه کوي پښي دي ومينځي اودجنابت له پاره دي دغسل په نيت تيمم وکړي. (درمختار ص ۳۷ ج۱ طهور المسلمين ص ۳۷) .

په موزو دمسح کوونکي امامت

مسئله : رسول الله ﷺ په موزو مسح کړي وه امامت يي وکړ ، نودمسح کوونکي دامامت په جواز کښي هيڅ شک نشته (مظاهر حق ص ۴۶۴ ج ۱ طهور المسلمين ص ۳۷) .

مسئله : دتارونو او وړيو معمولي جرابی چي دمسح دجواز شرائط ونلري ، مسح ورباندي جواز نلري اودهغه شخص امامت صحيح نه دي ځکه جرابی دمسح شرائط نه لري او ده ورباندی مسح کړی ده (فتاوی دارالعلوم ص ۲۷۰ دبحر الرائق په حواله) .

په عربانو کښې دموزو ډولونه

په عربانو کښې په جرابو باندې دڅرمني ګنډل دوه صورتونه لري :
اول : مجلد : داهغه صورت دې چې لاندې باندې تر بیډیو پورې څرمن ورکړې

دوهم : منعل : داهغه صورت دې چې یوازې په تلی (دلاندیني برخه)څرمن ورکړې دهمدې مروجو صورتو یا دونه دپخوانیو کسانو په کتابونو کښې شوې ده ، خو په عجمي هیوادونو لکه هند ، بخارا ، سمرقند ، اونورو کښې یو دریم ډول هم رواج دې ، هغه داچې جرابی ته لاندی باندی څرمن ورکوې خو داڅرمن تر بیډیو (کعبین) پورې نه وې ، همدا هم منعل دې (امداد المفتین ص ۱۹۸ ج ۱)

په پنډو اونریو موزو مسح کول

دجوربښت دجنست په اعتبار جرابی دوه ډوله دي : ثخین او رقیق دثخین (پنډی) اصطلاح دفقهاوو په نزد دهغو جرابو لپاره استعمالیږي چې دومره پنډې وي چې له بوټونو پرته دري میله واټن تګ پکښې وکړای شي .
په پښه پسې پرته له تړلو یا پرته له تنمیو دبوټ په څیر ولاړه وي او اوبه ژر نه جذبوي .
لنډه داچې دثخین جرابو لپاره دري شرطونه اینښودل شوی دي : یوداچې لږ تر لږه دري میله (څلور کیلو متره او اته سوه شل متره) لار به پکښې وهل کیدلای شي . داپه داسي حال کښې چې بله کومه جوړه وربانديي په پښو شوی نه وي .
دوهم داچې له پښې سره به پرته له تنګوالی اوپرته له تړلو ولاړه وي دریم داچې اوبه به تري نه تیریږي او ژر به يي جذب کولای نه شوای په کومو جرابو کښې

چي له دي شرطونه څخه يو هم کم وي هغه رقيقی (نري) جرابي دي (فتاوی دارالعلوم له امدادالمفتين سره ص ۱۹۵ ج ۲ ، شرح منية اوشامي) .
جرابي که وړيني وي که تاري همدا شرطونه (دمسح لپاره) ضروري دي که داشرائط پکښي نه وو هغه رقيقي دي (شامي ص ۲۴۸ ج ۱ منية المصلی ص ۴۲)

په وړينو اوتاري موزو (جرابو) مسح کول

وړينو اوتاري موزو ته جرابي ويل کيږي که دهمداسي موزو (جرابو) دواړه لوری څرمن ولري ورته مجلدي وايي . که يوازی دتلی لوري څرمن ولري ورته منعل وايي .
که موزی ټوله څرمن وي .دتار اووړيو دخل پکښي نه وي بيا خفين بلل کيږي په خفينو ، مجلدو جرابو . پنډو منعلينو جرابو په اتفاق سره مسح روا ده که جرابي مجلدي نه وي يا نري منعلي وي يعني دپنډو جرابو (ثخين) شرائط يي پوره نه وي نو په اتفاق سرهورباندي مسح جائز نه ده .
خو هغه جرابي چي پنډي وي مجلدي او منعلي نه وي . په هغوی مسح کول اختلافی خبره ده .

پنډی (ثخيني) هغه جرابي دي چي دري شرطونه پکښي پوره وي :
اول شفافي نه وي ، يعنی که اوبه ورباندي واچولي شي پښو ته ونه رسيږي .
دوهم پرته له استمساک متمسکي وي يعني له پښو سره پرته له تړلو ولاړي وي
دريم مشی (تګ) پکښي ممکن وي يعني که په پښو شي پرته له بلی جوړي دري ميله تګ پکښي وشي .
که همدا دري شرطونه پوره وي بيا مسح ورباندي روا ده خودايادساتل پکار دي چي په موزو باندي مسح کول په حقيقت کښي دعلت (تنقيح المناط) په

طريقه ده . هغه جرابې چې پورته يادشوي شرطونه ولري هغه په خفينو (موزو) کښې داخلې دي چې دمسح دجواز حکم لري .

هغه روايتونه چې په جرابو دمسح کولو په هکله دي هغه ټول کمزوري دي يا لږ ترلږ د(خبر واحد) په حکم کښې دي ، چې په هغوي باندې په کتاب الله زياتوالى کيدلاى نشي ، په هغوى باندې دمسح جواز ومسح على الخفين په متواترو حديثونو کښې دتنقيح المناط (علت) په ډول ثابت دي (درس ترمذى ص ۳۳۴ ج ۱) .
متواترو حديث هغه دي چې په هره طبقه کښې يې راويان تردوو ډير وي خو هغه بيا نه دي چې شمير يې دتواتر ترحد کم اويا ورته بديهي علم اليقين نه وي (تحفة الدر ص ۱۱) .

منعل موزى څه دي ؟

منعل دنون په سکون سره هغو جرابو ته ويل کيږي چې يوازى په تلى (لاندينې برخه) يې څرمن لګيدلى وي ، په پاسنى برخه څرمن ونه لري (درمختار ص ۴۰ ج ۲)

دموزو دمنعل کيدلو مطلب

مسئله : دجرابو له منعل کيدلو څخه مطلب دادي چې په لاندينې برخه يې څرمن لګيدلى وي اودمسح په غرض يې په شا هم تربيـلږيو څرمن ولري (فتاوى دارالعلوم ص ۲۷۵ ج ۱).

مسئله : په جرابو باندى پرته له څرمنې مسح جائز نه ده ، خوکه پنډې اومنعل ږي اويا مجلد وي مسح درباندې صحيح ده لکه دڅرمنې په موزو چې صحيح ده (فتاوى دارالعلوم ص ۲۷۲ ج ۱ دبحرالرائق ص ۱۹۲ ج ۱ په حواله) .

په منعل جرابو باندي دمسح کولو حکم

مسئله : دمنعل شویو جرابو اندازه څومره ده دعامو جوړو په څیر لاندی باندی ورځخه څرمن مراد ده که دهغی برخي وربانديي نشته کلکوالی هم دمسح کولو لپاره شرط دي ؟

جواب :هغه چي یوازی تلی (لاندینی برخه) څرمن ولري منعل بلل کیږي که څرمن په زیاته برخه لګیدلی وه خو ترېیډیو رسیدلي نه وه هغه هم دمنعل په حکم کښي دي (طحطاوي ص ۱۴۰ ج ۱).
په منعل جرابو کښي که له څرمني وتلی ځای دومره پرړ (پنډ) وو چي دمسح دجواز شرطونه پکښي پوره نه وو دمسح دجواز په هکله متاخرین علماء پکښي اختلاف لري . خودعدم جواز لوري داکثریت قول اواحوط (ډیر احتیاط) کار دي (احسن الفتاوی ص ۶۷۵ ج ۲).

مسئله : په عادي تاري جرابو په هیڅ صورت مسح کول جواز نلري ، که هغه ساده وي اوکه منعل ، که وربانديي لاندی باندي څرمن وه هم مسح وربانديي جواز نلري . اما که څرمن وربانديي ترېیډیو پوره وه بیا مسح وربانديي جواز لري . هغه مجلدي بلل کیږي (امداد المفتین ص ۲۰۱ ج ۱).

مسئله : په مجلدو جرابو مسح جائز ده (عالمگیري ص ۶۳ ج ۱ امداد المفتي ص ۱۹۶ ج ۲)

مجلدي موزي

مسئله :هغه جرابي دي چي لاندي باندي ټولي په څرمن کښي پټي وي ، (یا پوره موزي دڅرمني وي) (فتاوی دارالعلوم ص ۲۷۲ ج ۱).

په جرابو دپاسه دجرموقو حکم

مسئله : که څوک په نرمويا کلکو جرابو نوري جرابي په پښو کړي يا په جرابو پاسه جرموقي وتړي ، جرموقي هم دجوړي په څير دي خو دهغه جوړي (بوټ څپلی ، کپي ، موچتي ، پاپوش) دپاسه په پښو کيږي ترڅو جوړه له اوبو ژغوندي وساتي ، په دي صورتونو کښي که داشرائط ولري نو مسح رواندي روا ده .

ومړي : هغه به دڅرمني وي يا به دومره پنډي وي چي اوبه تري تيري نشي .

وهم : برسيري جرابي يا جرموقي به داسي وي چي که يوازی په پښو شي تگ کښي وشي .

دريم : همدا برسيرني جرابي به هم داوداسه په حال کښي په پښو شوی وي (کتاب الفقه ص ۲۲۹ ج ۱ درمختار)

مسئله : که جرموقي پراخي او ازادي وي . لاس يي تري کښته کاوو او په موزو يي مسح کوله جواز نلري (عالمگيري ص ۶۴ ج ۱ ، منية المصلی ص ۴۰) .

دنايلون (ليلون) په موزو (جرابو) مسح کول

پوښتنه : ځيني کسان له عربو راغلی دي ، پوهنتون او پوهنځيو کښي زده کړي کوي هغوی دنايلون (ليلون) په جرابو مسح کوي . وايي زمونږ بوټونه پاک دي نو ولي جرابي لري کړو ، ايا دنايلون په جرابو مسح روا ده ؟

جواب : په حديثونو کښي راځي چي رسول الله ﷺ په خفينو مسح کړی ده ، دمحدثينواو فقهاو په نظر خفين هغه موزی دي چی له څرمنی څخه جوړي شوي وي نو که دڅرمنی موزی (...) ... اختلاف ...

وربانديي مسح روا ده خو كه دتاريا وربو وي نو دمسح دجواز لپاره ورت
شرائط شته . هغوى به كلكي وي اوكه يوازى په پښو شي دري ميله به پكښ
تگ كيدلاى شي .

دوهم داچي له ترلو پرته به له پښو سره ولاړى وي يعني دغومره به پنډ
اوكلكي وي .

دريم : هغه به اوبه نه جذبوي داسي چي پښو ته ورسيږي كه داسي جرابي وي
بيا كه دتاروي كه دوړيومسح ورباندي جائزه ده ، ځكه هغوى دځرمني دموزو
په حكم كښي راځي خودنايلون جرابي نه كلكي دي ، نه پكښي تگ كيدلاى
شي اونه هم داوبو مخه نيولاى شي ځكه هم دټولو په نزد په هغوى مسح كول
جواز نلري (فتاوى قاضي خان ص ۲۵ ج ۱) .

يواځي دجرابو اوجوړي پاكوالى دمسح دجواز دليل كيدلاى نشي . دجرابو
پاكوالى په هرحال كښي ضرور دي ، هرو مرو ضرور لكه دجامو پاكوالى چي
ضرور دي ، له پاكوالى سره سره داسي جرابي ضرور دي چي ورباندي شرعي
مسح جائز وي ،كه پورته يادشوي شرائط پوره نه وي ، نو ورباندي مسح جائز
نه ده . كه ورباندي وشي اعتبار نلري. (فتاوى رحيميه ص ۲۸۱ ج ۴ . علم الفقه اونظام الفتاوى)

يادونه : په عامو جرابو چي دمسح دجواز شرائط پكښي پوره نه وي ، مسح
جائز نه ده ، نو چي مسح جائز نه ده بيا كه ورباندي وشي لمونځ هم نه كيږي م
محمد رفعت قاسمي) .

دغلا اوغصب په موزو باندي مسح كول

مسئله : په داسي موزو چي په غلا يا بله ناروا لاره يي ترلاسه كړي وي مسح
جواز لري كه څه هم په پښو كول يي ناروا دي ،خوداچي په ناروا لاره يي ترلاسه
كړي دادمسح له جواز سره منافي نه ده . دذي مثال داسي دي لكه څوك چي

اوبه غلا کړي ، که څه هم غلا ناروا ده خو همدا اوبه داودس کولو لپاره پاکي دي . دغلا اوغصب شيان که په عبادت کښي استعماليږي ، هغه هدف چي پکښي تقرب الى الله دي نه ترلاسه کيږي .اوسبب يي بنکاره دي .
(کتاب الفقه ص ۲۰۳ ج ۱) .

مسئله : که همداسي موزى په پښو شي مسح وربانديصحيح ده خوپه پښو کول يي گناه ده ، هغه هم کبيره گناه .که وربانديمسح وشي لمونځ يي صحيح دى .
همداسي دهغي پښي مينځل په اتفاق سره په اودس کولو کښي ضرور ده کومه چي په قصاص (سزا) کښي دغوڅولو وړ ده ، هغه مغصوبه پښه بلل کيږي وجه يي داده چي په يوه جرم کښي يي دغوڅولو حکم شوي دي خوهغه شخص تښتي گواکي هغه پښه يي په زور اوغصب سره خپله کړه داپښه په حقيقت کښي دده نه ده خوترڅو چي دده په تصرف کښي ده دمينځلو حکم وربانديشته دي (درمختار ص ۴۳ ج ۱) .

په زړو موزو (جرابو) مسح کول

همداسي موزو مسح جواز لري چي پکښي دتللو امکان وي ، هغه جرابي (لکه پلاستيکي يا هغه چي دمسح دجواز شرائط يي پوره وي) چي دزوړ والى له امله داسي له جوړي پکښي تگ کيدلاى نه شي مسح وربانديجواز نلري (اعلاءالاحکام ص ۳۹۳ ج ۱ دشامي په حواله) .
په دې مسئله کښي علماء دوه ډلي دي ، يوه ډله وايي چي دمسح دوخت له ختميدو سره سره مسح باقي ده خوبله ډله وايي مسح ختميږي خوبيا مسح کولو ته ضرورت لري (درمختار ص ۴۷ ج ۲) .

آیا په بوټونو مسح جواز لري ؟

مسئله : کوم بوټونه چي تريد پو پوري يې پښې پوښتلي وي دموزو حکم لري مسح وربانـدي جـائز ده ، خـوداچي پـه ګرځيـدلو کښـې نـاولی کيږ .هرلمانځه ته که يې کاړي مسح ماتيږي نو ګټه نلری ، ځکه په لري کولو يې دمسح موده ختميږي (امداد الفتاوی ص ۸۰ ج ۱ طهورالمسلمين ص ۳۶)

مسئله :دبوټ لاندينی برخه چي له ځمکي سره لګيږي . ناولی وي نومسح وربـاندي جواز نلري اوکه په لمانځه کښې په پښو وي نولمونځ نه صحيح کيږ (فتاوی دارالعلوم ص ۲۸۴ ج ۱ دعالمګيري په حواله اودترمذي درس)

په دستانو اوعمامي مسح کول

مسئله : په دستانونو (دسماغوګان ، لاس پوښي ، دستکش ، دستکلي مسح کول جواز نلري ، همداشان په عمامه (پګړی ، لنګوټه ، لونګی) مسح کول ناجائز دي (رکن دي ص ۲۶ بهشتي زيور دهدايه ص ۶۱ ج ۱ په حواله

مسئله :دلته (په عمامه ،خولی څادري اودستکلو کښې) ستونزي نشته چ دمسح علی الخفين په نبوي حديث ثابتـه ده اوخلاف القياس ده نـو پـه موز باندي بل شي قياس کولای نه شوای (درمختار ص ۴۳ ج ۱) .

په سرو سيمو کښې دمسح حکم

مسئله : که داسي سره سيمه وه چي هلته دموزو په ايستلو پښو ته زي رسيده نو په داسي وخت کښې که دمسح وخت ختم هم وو ، مسح وربانده

جائز ده ، خکه په داسي وخت کښي موزه دجبيري (پټي) حکم لري (فتاوى دارالعلوم مع امداد المفتين ص ٢١١ ج ٢) .

مسئله :که په موزو باندي دمسح وخت ختم شو خو دسړي لا اودس وو داشخص اختيار لري چي موزي باسي يوازي پښي مينځي اوکه ټول اودس کوي ، خوټول اودس اولي (غوره) دي (شامي ص ٢٥٥ ج ١ فتاوى دارالعلوم ص ٢١١) .

مسئله :که دموزي وخت داسي مهال ختم شو چي اوبه دومره سړي وي چيکه موزي وايستلي شي پښي خرابيږي (شلي کيږي ، يخ يي وهي) نوځه به کوي ؟ په دي شبه کښي علما٬ دوه ډلي دي ، يوه ډله وايي چي دمسح دوخت له ختم سره سره مسح باقي ده ، خوبله ډله وايي مسح ختميږي خوبيا مسح دجبيري حکم لري (درمختار ص ٤٧ ج ٢) .

په مبطنو موزو مسح کول

ه څوک موزو (جرابو) ته څرمن ورکوي نو دوه ډولونه خوبي منعل اومجلد ول دي ، دريم صورت يي دادي چي جرابي ته ددننه له خوا څرمن ورکړی . ي حکم هم دمنعل اومجلدو جرابو ده ، که څرمن ټولي جرابي ته تربيډو کړل شوي وه مجلده ده کنه منعله ده اوپه منعله جرابه مسح جواز نلري .

ئله :که جرابي وړيني يا دنازکي څرمني وي بيايي منعل کړي ، دمسح په لمه يني اختلاف دي ، دمنية دشارح په نزد راجح (غوره) جواز ده خو احتياط اوتقوى خلاف ده (امداد المفتين ص ٢٠٢ ج ١) .

دزربول موزو حکم

مسئله : په شام کښي دزربول په نوم يوډول موزي دي چي ددوارو بيړيو لورو ته خلاصيږي ، بندونه لري تربښو کولو وروسته بنديږي ، پرانستي خايونه يي بيرته بند شي . په دي ډول موزو مسح کول جواز لري .
‹درمختار ص ۳۴ ج ۳ › .

يادونه : نن سبا دبندونو په خاى ځنځير (قلفک) ورکوى په هغوى هم مسح صحيح ده .‹شامي ص ۲۴۹ ج ۱ › او ....

درسول الله ﷺ خفين اونعلين(مبارک)

پوښتنه : په موزو باندي مسح کول مشروع دي ان داهل سنت والجماعت خانګړتياده رسول الله ﷺ په پښو کړي دي اودرسول الله ﷺ دنعلينو (پنو . پيزار) شکل اوصورت هم دسير په کتابونونو کښي راغلى دي څومره چي فکر کيږي په موزو باندي دپاسه نعلين پښو کول په قياس کښي نه راخي خوپه ځينو کتابونو لکه : شرح سفر السعادات ، مدارج النبوت اوروضة الاحباب کښي دامر حکم لري . که له جرابو سره يا پرته له جرابو په پښو شي مسح وربانديي جواز لري اوکه نه ؟

جواب په موزو باندي ترمسح وروسته داهم شرط دي چي هغوى دلمانځه لپاره پاکي وي يعني داسي ناولي نه وي چي دلمانځه مانع وي . بيا داشرط نه ده چي له پنو سره په پښو شي . که يوازى موزي په پښو شي مسح وربانديي روا او لمونځ بي صحيح دي .

له رسول الله ﷺ څخه هم داسي روايت شته چي په موزو دپاسه يي پښي پښو کړي دي خو هغه همدا مشهوري پښي نه دي کيدلای شي نوري يي ورباندي په پښو کړي دي داچي رسول الله ﷺ ورباندي مسح کړی ده اوس هم دمسح موانع نشته اوښکاره ده چي دموزو لپاره شرط داده چي ساتر القدمين مع الکعبين وي يعني پښي له بيدي سره پکښي پټي وي.نو که کوم ډول بوټونه همداسي وي چي پښي اوبيدۍ يي پکښي پټي وي مسح ورباندي جائز اولمونځ ورسره روا دي (ردالمحتار باب المسح على الخفين) .

آيا له رسول الله ﷺ څخه په جرابو مسح کول ثابت دي ؟

پوښتنه : يوازی په مروجه جرابو مسح کول جواز لري ؟ ماله يوه مولوي صاحب څخه داواوريدل چي له رسول الله ﷺ څخه په جرابو دمسح کولو روايت ثابت دي دباريکوالی اوڅخا مت (پنډوالی) قيد پکښي نشته .

جواب : په جرابو مسح کول جواز نلري ، دمسح على الجوربين لپاره څلور شرطونه شته ، دري هغه شرطونه دي چي په موزو (خفين) باندی دمسح دجواز لپاره ضروري وو ، په جرابو کښي يوشرط دمسح دجواز لپاره زيات دي په درالمختار کښي راځي (اودمسح شرطونه دري دي : لومړي : داچي پښي له بيديو سره پټي کړي . دوهم : په پښه کښي کومه برخه ورڅخه (لوڅه) پاته نه وي .

دريم : يو فرسخ يا زيات عادی تګ په پکښي کيدلای شي .
دجرابو لپاره بيا داچي دومره کلکي وي چي يو فرسخ پکښي تګ وکړای شي له ساق سره په خپله ولاړي وي ، لاندي تري څه ونه ليدل شي اوڅه شي تري لاندي تير نشي) (درمختار على الشامي ج ۱ ص ۱۷۹) . نو که همداڅلور شرطونه پوره وو مسح ورباندي جواز لری .

مولوي صاحب چې داوايي له رسول الله ﷺ څخه په جرابو مسح ثابته ده ، دابې علمي ده په حديث شريف کښې دومره شته (انه عليه الصلوة والسلام مسح على حفيه) (جمع الفوائد ص ٤٢) . بل حديث دي (ان النبي ﷺ مسح على الجوربين) (جمع الفوائد ص ٤٢ ج ١) لنډه داچې په (خف اوجراب) مسح کول ثابت دي خو مراد ورڅخه هغه موزى (اوجرابي) دي چې پورتني شرائط ولري ، يوازى درخت اوکپړي جرابي نه وي (والله اعلم وعلمه اتم واحکم) (فتاوى دارالعلوم ص ۲۷۴ ج ۱) .

موزى (اوجرابي) به څرنګه وي

مسئله : هغه موزى چې اينستل يې ضروري نه دي اومسح وربانديې جواز لري . په هغوى کښې داخلور خبري ضروري دي .
اول : دومره به کلکي وي چې پرته له بل څه اوترلو په پښو پسي ولاړي وي .
دوهم : دومره کلکي وي چې دري ميله (۴ کيلو متره او ۸۳۰ متر) فاصله پکښي وهل کيدلای شي.
دريم : پنډوالی يې دومره وي چې تري لاندي پښه څرګنده نشي .
څلورم: اوبه به نه جذبوي يعني که اوبه وربانديې واچولی شي لاندي به تري نه وځي کومې موزى (اوجرابي) چې دأشرائط ولري که هغوى دڅرمني وي تار او وړيو يابل څه ، مسح وربانديې جواز لري (مظاهر حق ص ۴۶۲ ج ۱) .

مسئله عامه خبره داده چې دڅرمني پکښي شرط نه ده که په پنډتار ياکرمچ څخه وي چې پرته له ترلو په پښو پسې ولاړ وي اوکه پرته له بلی جوړی په پښو شي او دري ميله پکښي تګ وشي ، په هغوى مسح روا ده .

مسئله: په کومو موزو چي مسح جواز لري که له دي سره ، سره چي کلکي وي ، تنگ پکښي کيدلاي شي داهم شرط دي چي پښي به يي تربيډيو پوښلي وي ،تربيډيو به کمي نه وي (طهور المسلمين ص ۳۴ ، احسن الفتاوی ص ۶۱).

مسئله : په کومو موزو چي مسح جواز لري هغوی تربيډيو پوري پښي پوښلي وي بيډي هغه هډوکي دي چي دپښو په پورتني برخه کښي راوتلي دي ، داخکه چي دپښو مينځل تربيډيو پوري لازم دي . که خورا کمه برخه پاته شي اودس نه کيږي ، (کتاب الفقه ص ۲۲۱ ج ۱) .

يادونه:موزی به تربيډيو کمي نه وي زياتوالی يي حرج نه دي.

(رفعت قاسمي)

دحلالی‌اوحرامي څرمنی موزی

پوښتنه : څرنگه راته معلومي شي چي داموزی دکوم حلال څاروي دي که دحرام ، اوکه په ټولو هغو موزو مسح جواز لري چي دهرڅاروي وي ؟

جواب:پوست (څرمن) په دباغت پاکيږي او داوسوسه په کار نه ده چي دڅه دول څرمني به موزی جوړي شوي وي (ستاسومسائل ص ۶۶ ج ۲) .

په پلاستکي موزو دپاسه جرابی

پوښتنه : که موزی له پلاستک څخه جوړی شوي وي سربيره ورباندی تاري جرابي پښو يي ايا مسح ورباندی جائز ده ؟

جواب : که له پلاستک سره جرابی وي ، مسح ورباندي صحيح ده ، دي ته

له ګنډلو پرته په جرابو مسح جواز نلري خکه مسح په چرمي موزو جواز لري خوپه جرابو مسح کول دموزو تحقق نه مومي ، دادمبطن په خلاف دي چي هلته تاري توبه اوڅرمن سره يو شوي دي ،خکه په هغوی مسح جائز ده
(احسن الفتاوی ص ۶۶) .

دشيشي يا اوسپني دموزو حکم

مسئله : هغه موزی چي له شيشي ، اوسپني يا لرګي څخه جوړي شوي وي مسح وربانديي جائز نه ده ، خکه کومي موزي چي لـه دي شيانو جوړي شوي وي انسان پکښي بي تکليفه تګ کولای نشي (درمختار ص ۳۴ ج ۳ اوعالمګيري) .

څوک چي يوه پښه لري

مسئله : که دچا پښه غوڅه شوی وه ، که دپښي شاددريو ګوتو په اندازه پاته وه نو په موزو يي مسح جائزه ده اوکه دهمدي فرض په اندازه پاته نه وه بيا مسح وربانديي جواز نلري اومينځي به يي دلاندی لوري څخه وربانديي مسح نه کيږي خکه دمسح خای پاته نه دي خومينځل کيږي ، خکه خای يي باقي پاته دي .

مسئله :که دچا يوه پښه وه بله يي يا دپيدايښت په وخت کښي نه وه يا تربيلۍ پورته غوڅه شوی وه ، داشخص به په يوه موزه مسح کوي
(درمختار ص ۴۳ ج ۱) .

مسئله :که څوک ګوډ وو چي ګوتي يي نه وي خو نوره پښه وه مسح ورباندی جواز لری ، ترڅو پنده پاته وي مسح ورباندي کيږي (درمختار ص ۶۸ ج ۱)

مسئله :که دچا يوه پښه غوڅه شوی وي يوازی ددريو ګوتو په اندازه پاته وه . مسح ورباندي صحيح ده خو که تر دي اندازه کمه پاته وه په موزو يي مسح جواز نلری ، که دچا يوه پښه تر بيلږيو پورته غوڅه شوي وه اوبه بله يي موزه په پښو کړي وه.مسح ورباندي جائزه ده (کتاب الفقه ص ۲۲۶ ج ۱) .

ترموزو دلاندی جرابی

مسئله : که تاري يا وړيني جرابی چا په پښو کړي وي نري وي يا پنډي خو سربيره يي ورباندي موزی په پښو کړی وي مسح ورباندي جائزه ده .
(امداد الفتاوی) .

مسئله : کومي جرابي چي نن سبا معمول دي که تاری ، وړيني ، يا نايلوني وي هيڅکله ورباندي مسح جواز نلری ، خو که دلاندی په پښو شي اوبری دپاسه دڅرمني يانوري موزی په پښو شي مسح ورباندی جائزه ده .
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۶۷ ج ۱) .

دموزو مينځل څرنګه دي ؟

مسئله : که چا موزی په پښو کړي وي مينځلي يي خو دمسح نيت يي نه وو کړي بيا هم مسح ورباندي کيږي که څه هم موزي (چي په پښو وي) مينځل مکروه دي (کتاب الفقه ص ۲۳۲ ج ۱) .

مسئله په موزو باندي دمسح کولو دجواز لپاره له نجاست څخه دموزو پاکول شرط نه دي . که په موزه باندي ناولتيا (نجاست) وو هم مسح وربانديروا ده .خوله نجاست سره لمونځ صحيح نه دي (کتاب الفقه ص ۲۲۳ ج ۱) .

دمقيم اومسافر لپاره دمسح موده

مسئله : که دموزي شرطونه پوره وو په حضر(کور) کښي تريوي شپي او ورځي (۲۴ ساعته) مسح جواز لري اودشرعي سفرپه حالت کښي تر دريو شپو ورځو (۷۲ ساعته) پوري جواز لري . دافرق نلري چي سفر دطاعت دي اوکه دمعصيت .

په موزه باندي دمسح موده . دموزي له پښو کولو څخه نه شمير له کيږي ، بلکی داودس لـه ماتيدلو وروسته موده شميرله کيږي ، مثلا چاپه اوداسه باندي ماپښين ، موزي په پښو کړي خو مازديگر يي اودس مات شو لـه همدی مازديگر څخه به دمقيم لپاره ۲۴ ساعته اودمسافر لپاره ۷۲ ساعته موده شميرله کيږي .

مسئله : غوره صورت دادي چي بشپړ اودس وشي ، موزي په پښو کړي بيا چي اودس مات شي اوبيا اودس کوي مخ اولاسونه ومينځي اوپه موزو مسح وکړي . تر ۲۴ ساعتونو که يي اودس کاوو همداسي به په موزو مسح کوي اوپښي به نه مينځي . خو دمسح موده . له پښو کولو اونه له مسح کولو بلکي داودس له ماتيدلو څخه شمير له کيږي .

مسئله داسي هم صحيح دي چي څوک لومړی پښي ومينځي اوبيا وړاندي تر داسي څه چي اودس ماتوی نور اودس بشپړ کړی ، جواز لری خو دترتيب

خلاف دي ، نو غوره صورت يې هغه دي چي وړاندی بيان شو ، يعنی پوره اودس وکړی اوبيا موزی په پښو کړي داهم شرط نه ده چي له اودس کولو سره سم دستي دي موزي په پښو کړل بلکي تر اودس ماتيدلو وړاندی په پښو کول بې چي هروخت وغواړی صحيح دي .

مسئله :په موزو باندی هغه وخت مسح کول صحيح دي چي سړی اودس کوي خو که په چا باندي غسل لازم وو بيا مسح کافی نه ده ، موزي به کاږي . که بې موده پوره وه اوکه نه وه (طهور المسلمين ص ۳۵ ، مظاهر حق ص ۴۶۶ ج ۱) .

مسح دموزو په کوم ځای اوڅرنګه کيږي

شارع ﷺ دتولي موزی مسح کول دپښي دمينځلو په ځير ضروري بللی نه دي که څه هم په موزو مسح کول دپښو دمينځلو په ځای کيږي اودتولي پښي مينځل فرض دي خو مسح هغسي نه ده .

ددي سبب دادی چي په موزو باندی دمسح کولو يوخاص مراعات دي شارع ﷺ په دي هکله اساني جوړه کړي ده ، داچي په موزه باندي په څومره اندازه مسح کول فرض دي په اړه يې دامسئلې راځي .

مسئله :په موزو دپاسه ددرې ګوتو په اندازه مسح کول فرض دي هغه هم دوړي ګوتي په اندازه ، شرط دادی چي مسح به دموزي په هغې برخه کيږي چيري چي پښه وي ، په دي مسئله کښي په موزو مسح کول دسر په مسح قياس کيږي نوله هم دي برخی چي پښه پکښي وي بل ځای مسح نه کيږي لکه په پنده پسي نوره لګيدلی توټه ، مختني برخه يا يې په څنډو يا هم دلاندی له لوري ، مسح دپښو په پورتني برخه کيږی خو تربيلړيو دلاندی هم جواز لري .

مسئله : که دخرمني په موزو ویښتان وو اودمسح په وخت کښي اوبه خرمنی ته نه رسیدلی مسح جائزنه ده ، که یي په ویښتانو دمسح اراده وکړه اوخرمنی ته اوبه هم ورسیدلی بیا هم مسح صحیح نه ده (کتاب الفقه ص ۲۲۸ ج ۱) .

مسئله :موزه به دپښي ددریو ګوتو په اندازه شلیدلي نه وي .

مسئله : مسح دلاس په ګوتو کیږي که په یوه ګوته مسح وشي جائز نه ده ، خکه په دي صورت کښي دااحتمال شته چي دمسح اندازه پوره نشي ، کیدلای شي په لومړی مسح ګوته وچه شي ، خو که په یوه ګوته دري خایونه مسح وشي اوهرکله ګوته لمده شي بیا جواز لري ، په لاس سره هم مسح ضروري نه ده ، که باران وو اودمسح په خای اوبه وبهیدي هم مسح صحیح ده (کتاب الفقه ص ۲۲۶ ج ۱ درمختار ص ۳۸ ج ۳) .

مسئله :په موزو باندی دمسح فرض اندازه داده چي دلاس ددریو ګوتو په اندازه په هره موزه دموزو په پورتنی برخه مسح وشي غوره طریقه یي داده چي ددواړو لاسونه ګوتي په اوبو لمدي شي اودموزو دګوتو په لوري کښیښودلی شي اوپورته لورته راکښ کړای شي ګوتي به موټ نه وي اوسره پرانستي به وي .

مسئله :که چا چپه مسح وکړه یعني دلاس ګوتي یي دپښو دبیدیو له لوري دپښو دګوتو لورته کش کړی هم جواز لري خو دادسنت خلاف عمل دي (طهور المسلمین ص ۳۵) .

مسئله :لومړی دي ددواړو لاسونو ګوتي په غیر مستعمل (تازه) اوبو لمدي کړی بیا دي دښي ګوتي دښي پښي په ګوتو برابر په موزه په غوړیدلی ډول

کښېږدي اودبیږیو په لور دي راکاږي اوبیا دي دکینږ لاس ګوتي په کینه پښه ممدامي راتیري کړی .
دادمسح مسنونه طریقه ده خو که څوک یوه ګوته دري ځلی په موزه باندی بیل بیل ځای اوهر ځل ګوته په اوبو لمده کړی هم مسح جواز لري . خوکه هرځل ګوته لمده نه شي جائزه نه ده (مظاهر حق ص ۴۶۷).

مسئله :که مسح په ګوتو ونشي ، په ورغوي وشي یا په لامده لرګي یاجامه وشي هم جواز لري .

مسئله :که دباران یا نوري اوبه یاڅاڅکي ددریو ګوتو په اندازه په دواړو موزو ولګیږي یا دشبنم په لمدوالی واښه ورباندی دمسح په اندازه کش کړای شي مسح کیږي ، که واښه دباران په اوبو لوند وواو ورباندی دمسح په څیر تیر شو هم مسح وشوه .

مسئله :که دموزو په لاندیني برخه یا له ښي اوکینږ ارخه مسح وشي یا تر دریو ګوتو په کمه اندازه مسح وشي جواز نلري .

مسئله :که چا ګوتي ورباندي ولاړي کښیښودلی اولاس دومره لوند وو چي ددریو ګوتو په اندازه یي موزي لمدي کړي جائز ده ، که اوبه کمي وي یوازی ددریو ګوتو دسرونو اثر پاته شو مسح ونه شوه (طهور المسلمین ص ۳۶) .

مسئله :که په یوه موزه ددوو ګوتو په اندازه اوپه بله موزه دپنځو ګوتو په اندازه مسح وکړای شي جواز نلري .

مسئله : که دچا پښي زخم وي نه یي مینځلای شوای اونه یي مسح کولای شوای بل کس ته یي دمسح کولو جواز شته (عالمګیری ص ۶۵ ج ۱) .

مسئله :که په بته گوته او ورسره نژدې گوته مسح وشي . دواړي غوړيدلی وي مسح جواز لري . **مسئله** :که چا په موزو باندی دري گوتي کښيښودلی خو کش يي نه کړي جواز لري خو دسنت خلاف عمل دي .

مسئله :که يي دگوتو په سرونو مسح وکړه او اوبه ورڅخه څڅيدلی مسح جواز لري اوکه نه څڅيدلی وي جواز نلري .

مسئله : داندامونو په مينځلو چي کوم لمدوالی پاته کيږي مسح وربانديٍ صحيح ده که هغه څڅيدلی اوکه نه . خو که دسر ترمسح وروسته لمدوالی پاته وو په هغوی (دموزو) مسح جائزه نه ده .

مسئله :که په دواړو موزو په ساره مسح وشي جوازلري .

مسئله :که ورغوي کښيږدي يا گوتي کښيږدي اوکش يي کړی دواړه صورتونه صحيح دي . خو غوره داده چي په ټول لاس مسح وکړای شي ، که ذورغوی په شامسح وکړای شي هم جائز ده .

مسئله :په مسح کښي ليکی (داوبو نښي) شرط نه دي خومستحب دي .

مسئله :په مسح کښي څوخلي گوتي کشول سنت نه دي يوازی يوځل مسح کيږي داسي نه دي لکه په اوداسه کښي چي اندامونه دری خلی مينځل کيږی . مسح يوځل ده .

مسئله :په موزو باندي دمسح کولو نيت شرط نه دي (فتح القدير).

مسئله: که چا اودس وکړ ، مسح یي وکړه اوپه هغه کښي یي دښودلو نیت وو دپاکی نیت یي نه وو صحیح ده اومسح وشوه (خلاصة ، فتاوی عالمگیری ص ۶۶ ج ۱) .

مسئله :که موزه ارته وه ، که پاته پښه پکښي ښکاره کیدله دانقص نلری . خوکه موزه ارته وه اومسح په زانده برخه وشوه په دي صورت کښي مسح صحیح نه ده ،ځکه په هغه ځای کښي پښه نشته ، خوکه یي هغه خالی برخی نه پښي ورسولی اومسح یي وکړه بیا صحیح ده .
که دموزی په خالی ځای مسح وشوه ، بیرته دي راوګرځوي خوپوقول دادی چي دمسح دراګرځولو اړتیا نشته ، (درمختار ص ۳۴ ج ۳ ، عالمگیری ص ۶۶ ج ۱) .

په موزو باندي مسح څه وخت ناروا ده ؟

مسئله : که موزی تربیدیو کښته وي مسح ورباندي جواز نلری .
(فتاوای دارالعلوم ص ۲۷۴ ج ۱) .

مسئله : که موزه دومره څیري شوی وي چي دتګ په مهال تر دریو ګوتو زیاته پښه تری ښکاره کیږي مسح ورباندي جواز نلری .

مسئله :که یوه موزه دوه دری ځایونه بیل بیل سوري وي ، که هغه سوری سره یوځای شي او ددریو په اندازه شي مسح ورباندي روانه ده .

مسئله :که په دواړو موزو کښي دومره سوري اوڅیري ځایونه نه وو چي که سره یوځای شي ددریو ګوتو په اندازه شي څه ستونزه نلری مسح ورباندي جائز ده .

مسئله :که تردریوگوتو زیاته خیري وه خو دتگ په وخت کښي څرمن وربانديِ راتله اوپښه تری د دریو گوتو په کمه اندازه ښکاره کیدله مسح وربانديِ روا ده (طهور المسلمین ص ۳۵ درمختار ص ۴۴ ج ۲) .

په غبرگو موزو دمسح حکم

مسئله : که چاغبرگي موزی لاندی باندی په پښو کړی وي ، سربیره موزه اعتبار لری ، که هغه وایستله شي اودلاندي په پښو وي هم مسح ماتیږي اوپه لاندیني موزه بیامسح لازمیږي (شامي کراچي ص ۲۷۳ ج ۱) .

مسئله :که دلاندي تاري موزه (جرابه) وه اوسربیره دڅرمني موزه وه ، په سربیرنه موزه مسح کول کفایت کوي (شامي ص ۳۷۳ ج ۱ عالمگیري) .

مسئله : که سربیرنه موزه ددریو گوتو په اندازه سوري وه مسح وربانديِ جواز نلری (بدائع ص ۱۱ ج ۱ . درمختار ص ۴۰ ج ۱) .

په موزو باندیمسح څه وخت باطلیږي ؟

مسئله : که دمسح په موده کښي موزه له پښي څخه وایستله شي دمسح وخت ختم اومسح باطلیږي .

مسئله :که په ناڅاپي توگه پښه له موزی وخیژي اودپښي ډیره برخه په موزی څخه ختلی وه که دواړه پښو مینځل ضروري دي که یوه پښه له اوبولمده شي مسح باطلیږي ددواړو پښو مینځل ضروري دي که یوه پښه له موزی څخه ختلی وه که دواړه توپیرنلری که یي اودس وو یوازی پښي دي

ومینخي نوراودس دي نه تازه کوي غوره داده چي ټول اودس وکړي . خو واجب اوضرور نه دي .

مسئله : که غسل واجبیږي بیا هم مسح باطلیږي .غسل کول اوپښي مینځل ضرور دي (یعني په جنابت ، حیض اونفاس سره مسح باطلیږي) .

مسئله :که چا په بي اودسي کښي موزی په پښو کړي .بیا یي داودس کولو په وخت کښي پښي ونه مینځلي اومسح یي ورباندي وکړه باطل اوبي اعتباره ده ځکه یي پښي مینځلي نه وي بي اودسه دي .

مسئله :څوک چي موزی په پښو کوي . مسح ورباندي روا وي خوداودس کولو په وخت کښي دمسح کولو په ځای پښي ومینځي داجائز (بلکي غوره) دي خوکه دلمانځه وخت تنګ وو اودموزو په ایستلو اودپښو په مینځلو یي لمونځ قضاکیده بیا ورته روانه ده . نوراندامونه دي ومینځي اوپه موزو دي مسح وکړی .

مسئله :که اوبه کمي وي اودموزو په ایستلو ورباندي ټول اندامونه نه مینځل کیدل اوتیمم ته اړ ایستل کیده بیا دي په دي صورت کښي چي دمسح وخت بي پاته وي موزی نه باسي مسح دي ورباندي وکړي ، داغوره ده (طهور المسلمین ص ۳۷ کتاب الفقه ص ۲۳۲ ج ۱) .

مسئله :هرهغه شي مسح ماتوي کوم چي اودس ماتوي. ، خکه مسح داوداسه برسره دموزی ایستل که څه هم له یوي پښي وي اودمسح دوخت پوره کیدل مسح ماتوي (درمختار ص ۴۶ج ۲) .

مسئله: له شرعي موزی څخه دپښي دزياتي برخي وتل ياقصدا ايستل دټولي موزي دايستلو حکم لري ، قاعده ده (للاکثر حکم الکل) .
دپندي دبرني برخي وتلو او ننوتلو ته اعتبار نشته يعني که موزه پراخه وه اودپندي برني برخه وته ننوته اعتبار نلري (دپندي دبرني برخي مطلب تربيلړيو دلاندی په پنده باندي برخه ده) (درمختار ص ۴۷ ج ۲) .

مسئله: ددواړو يا يوي موزي په ايستلو اودمسح دمودي په ختميدلو مسح ماتيږي (هدايه) خوداپه هغه صورت کښي چي اوبه موندل کيږي ، که اوبه نه وي مسح نه ماتيږي اوپه هغي مسح لمونځ کيږي ، ان که بيا هم اوبه نه موندل کيدی لمونځ دي پسي کوي (عالمگيري ص ۶۸ ج ۱) .

مسئله : که موزه دومره پراخه وه چي که گوتي تري ننوزي او مسح وکړی جواز نلري .

مسئله: که څوک دموزی په څنډه يا دشا (پندي) له لوري يا تربيلړيو له لوړه لوري په موزو مسح وکړی جائز نه ده (کتاب الفقه ص ۲۲۶ ج ۱) .

پرته له اودسه په موزو مسح کول

پوښتنه : که چا بي اودسه موزی په پښو کړي ، دلمانځه وخت راغي اودس يي وکړ او په موزو يي مسح وکړه لمونځ يي کيږي که نه ؟
په دي مسئله کښي دفقه په کتابونو کښي دطهارت لفظ راغي داپه اوداسه دلالت کوي که دبدن پاکي اويا دپښو ناولتيا ښيي؟

جواب :که څوک اودس ونکړي ، پښې ونه مينځي مسح ورباندي جواز نلری له طهارت څخه مقصد اودس دي دايوه اتفاقي خبره ده (فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۲ ج ۱) .

مسئله : دمسح لپاره داضروري ده چي موزي به په اوداسه په پښو شوي وي (فتاوی دارالعلوم ۲۶۸ ج ۱) .

مسئله :که په موزو باندي نجاست وو بيا همورباندي مسح صحيح ده خولمونځ ورسره صحيح نه ده (کتاب الفقه ص ۲۲۳ ج۱) .

که مقيم مسافر شو

مسئله : که مقيم وموزو ترپښو کولو وروسته چي دمسح موده يي لاپوره شوي نه وه اومسافر شو ، داورته جائز ده چي دمسافر دمسح موده پوره کړی يعني تر دريو ورځو اوشپو په موزو مسح وکړي .

مسئله :که مسافر دمسح دمودي ترپوره کيدلو وړاندی مقيم شو ، دمقيم دمسح ترمودي ورته مسح کول جواز لري ، مثلا که چا سهار اودس وکړ موزي يي په پښو کړی مازيګر کور ته راغی نو يوه شپه او ورځ به پوره کوي (مظاهر حق ص ۴۲۹ ج۱) .

مسئله :که مقيم دمسح دمودي ترپوره کولو وروسته مسافر شو ، موزي دي وباسي اودس دي وکړی اوکه مسافر دمقيم دمسح تر مودي وروسته کورته راغی موزي دي وکاږي

پوره نه وه هغه دي بشپړه کړی ، داځکه هغه اوس دمقیم حکم لري (درمختار ص ۳۸ ج ۳) .

مسئله :دموزو شخص که داودس کولو په وخت کښي عذر نه وو اوموزي يې په پښو کړی نو دروغو کسانو په څير يې ترمعلومي مودي ورته مسح جواز لري

که داودس کولو په وخت ياديوي موزي دپښو کولو په وخت کښي ورته عذر پيداشو نودلمانځه په وخت کښي ورته مسح صحيح ده ، دوخت تر تيريدلو وروسته جواز نلري (فتاوی عالمګيري ص ۶۷ ج ۲) .

مسئله :که يوي موزي ته اوبه ورسيږي اوټوله پښه لمده کړی په دي صورت کښي مسح ماتيږي موزی به باسي اوپښي به مينځي (رکن دين ص ۲۶ او ...)

مسئله :که چا اودس وکړ اوپه ګوتو لمدوالي پاته وو په هغوی يي دموزو مسح وکړه جواز لری خوکه يي دسر مسح وکړه اودګوتو په پاته لمدوالی يي په موزو مسح وکړه جواز لری خوکه يي دسر مسح وکړه اودګوتو په پاته لمدوالی يي په موزو مسح وکړه جواز نلری (منية المصلی ص ۴۱) .

په موزو باندی دچامسح صحيح ده ؟

اول : داودس کوونکی مسح صحيح ده که هغه سړی وي که ميرمن ، مقيم وي که مسافر . په دي شرط چي ټول شرائط يي پوره وي .

دوهم : دغسل کوونکو مسح صحيح نه ده ، که غسل فرض وي اوکه سنت ، په سنت غسل کښي هم پښي لمديږي نومسح نه پاته کيږي .

بوصورت دادي چي په سنت غسل کبني . دغسل په وخت پښي لوړځای کښیږدي اودي کښيني له پښو پرته نور بدن ومينځي اوپه موزو مسح وکړی (در مختار) .

دريم : څوک چي تيمم وهي په موزو ورته مسح جائز نه ده . څلورم : که کوم عذر نه وو دمقيم لپاره ترحدث (دبی اودسی) . وروسته يوه شپه اوورځ اودمسافر لپاره تر دريو شپو ورځو مسح جواز لري (علم الفقه ص ۷۷ ج ۱) .

په موزو باندي دمسح دجواز شرائط

اول : په هغو موزو مسح کول جواز لري چي که په پښو شی دپښو هغه برخه پټه کړی کومه چي په اوداسه کښي يي مينځل فرض دي يعني تربيلیو پوري ، که موزی ددريو وړوګوتو تراندازی پوري سوري اوڅيري وي څه مشکل نه جوړوي دوهم : موزی به دومره زړی نه وي چي دمسح مانع وګرزي . دريم : موزی به له پښو سره لګيدلی وي دومره به غټي نه وي . چي له پښي څخه يي کومه برخه خالی وي ، که دغومره غټي وي بيا دي په هغه ځای مسح کيږي چي هلته پښه وي .

څلورم : دموزو څلور شرطونه به يي پوره وي يعني :

الف : دومره به پنډي وي چي پرته له تړلو په پښو پسي ولاړی وي .

با : دومره به کلکي وي چي دري ميله تګ پکښي وشي .

ج : دومره به پنډي وي چي تري لاندي پښه ښکاره نشي .

د: اوبه به نه تري تيريږي .

ه : دحدث بي اودسي ، وړاندی به په بشپړ اودس پښو شوي وي که څه هم دپښو کولو په وخت کښي داودس پوره نه وي يعني که څوک لومړی پښي ومينځي موزی په پښو کړی بيا اودس جواز لري ، دايي هغه حالت دي چي

دموزو دپښو کولو په وخت کښې اودس بشپړ نه دي . اوبیا مسح وربانديکولای شي (علم الفقه ص ۷۴ ج ۱) .

مسئله :دموزو دمسح دجواز لپاره داشرط نه دي چي په پوره اوداسه په پښو شي ، که څوک پښي ومينځي ، موزي پښو کړي بيا داودس دماتيدلو تر سبب وړاندی اودس وکړی ، صحيح دي . خوشرط دادي چي اودس به په اوبو کوي (تميم به نه وهي) تول اندامونه چي فرض دي ومينځل شي اودسرمسح پاته نشي (کتاب الفقه ص ۲۲۳ ج ۱) .

دمسح فرضونه

۱ **مسئله** : مسح دموزو په برسيرنه سطح کيږی چي دپښي دشالوری دي .

۲ **مسئله** : موزی به دگوتو له لوری دبيديو لورته ددريو ورو گوتو په اندازه مسح کيږي . که لاسونه لامده وي، که بل څه لوند شي وربانـدي تيرشي يادباران په اوبو هرومرو لوندوالی ورته ورسيږي ،جواز لري اوهمدامسح بلل کيږي .

مسئله :دادشخص اختيار دي چي په دواړو موزو يوځای مسح کوي او يا لومړی په يوه اوبيا په بله موزه مسح کوي . دايي هم اختيار دي چي په کومه يوه وغواړی په هغې يي وکړی (علم الفقه ص۷۸ ج ۱) .

دمسح سنتونه اومستحبات

۱ : په لاس مسح کول ۲ : دمسح کولو په وخت دگوتو پرانستل ۳ : گوتی په موزو اينبودل اوبيا داسي راکاږل چي دلمدوالی نبني تري پاته شي ، ۴ : مسح دپښو دگوتو لـه لوري پيل کول اودبيديو لورته کشول ۵ : مسح لـه گوتو

تربیډیو کول . ۶ : په دواړو موزو یوځای مسح کول ۷ : په ښي لاس . ښي موزه اوپه کیڼ لاس کینه موزه مسح کول ۸ : دلاس دروغوي په لور مسح کول نه دګوتو په شا .

دمسح مسنونه اومستحبه طریقه

مسئله : ددواړو لاسونو ګوتي په غیر مستعملو اوبو لمدول دښي لاس ګوتي غوړول اوپه ښي موزه اینبودل دکیڼ لاس ګوتي په کینه موزه اینبودل اوبیا له ګوتو دبیډیو لورته راکاږل چي په موزو باندي دلمدوالی نښي پاته شي .

مسئله : مسح په سربیرنه برخه کیږي نه دتلی په لوري (علم الفقه ص ۷۸ ج ۱) .

مسح څه وخت واجب ده ؟

۱ مسئله : که له چا سره دومره اوبه وي چي له پښو پرته نوراندامونه ورباندی مینځل کیدل نو په موزو باندی مسح واجب ده .

۲ مسئله :که څوک په خوف (ویره) کښي وو اودپښو په مینځلو وربانـدی وخت تیریده یا که دموزو په کښلو اودپښو په مینځلو دعرفات دریدل ورځخه تیریدل ، وربانـدی واجب ده چي موزی ونه باسي او وربانـدي مسح وکړي .

۳ مسئله :که دموزی نه کولو په صورت کښي وربانـدي دخارجی یا رافضي اتکل کیده وربانـدي واجب ده چي په موزو مسح وکړی .

۴ مسئله :دموزوله ایستلو پرته دپښو مینځل ګناه ده (علم الفقه ص ۷۷ ج ۱) .

هغه شیان چې وربان‌دی مسح صحیح نه ده

۱ : هغه موزی چې شرائط یې پوره نه وي . مثلا داسې موزی چې دپښې تول هغه برخه یې نه وي پوښلي کومه چې مینځل یې فرض دي ، ددریو گوتو په اندازه پښه تری ښکاري . یا دومره زړی وي چې دمسح مانع وي یا یې مخته یادشوی څلور شرطونه . نه وي پوره . یا په بشپړ اودس په پښو شوی نه وي مثلا تیمم یې وهلی وي .

نن چې کومې تاری . وړینی یاناتلونی موزی (جرابې) معمول دي ، په هغوی مسح نه کیږي ځکه هغوی دمسح شرائط پوره نلري ، همداسې دفلز ، ښیښې یا لرگي په موزو مسح نه کیږي ، ځکه په هغوی کښې تگ ستونزمن وي (علم الفقه ص ۷۵ ج ۱) .

۲ : که دوه جوړی موزی (جرابی) په پښو شوي وي په لاندینیو مسح کیږي په پورتنیو روانه ده . ۳: که دلاندی داسې موزی (جرابې) په پښو شي چې دمسح شرائط یې پوره وي اوسرییره وربان‌دي داسې موزی په پښو شي چې شرائط یې پوره نه وي نو په پورتنیو موزو مسح جائز نه ده .

۴ : که دموزو دمسح موده ختمیږي دپښو له مینځلو پرته بیا وربان‌دي مسح جانزه نه ده .

۵ : که دستکشونه (لاس پوښې) په لاس وي دلاس په عوض مسح وربان‌دی جایز نه ده .

۶ : دسر په بدل په عمامه (پگړی) مسح جواز نلري .

۷ : که غبرګی موزی (جرابی) په پښو شوي وي پورتنی دمسح شرائط ولري نوبیا لاس تري دننه کول اوپه لاندینیو مسح کول جواز نلری ، که هغه شرائط پوره لري اوکه نه :

۸ :که تاري موزی (جرابی) په پښو وي خوشرائط یي برابر نه وو او ورباندي دومره څرمن یي وزکړه چي یوازی په لاندینی برخه کښي په خمکه لګیدله بیا هم ورباندی مسح جواز نلری (علم الفقه ص ۷۶ ج ۱) .

هغه شیان چي مسح ورباندي صحیح ده

۱ : په موزو باندي مسح جواز لری په دي شرط چي دمسح شرایط پکښي پوره وي که هغه دڅرمني وي دتاروي اوکه دبل شي خو شرائط پوره کیدل یي ضروري دي .

۲ :په بوټونو باندي مسح کول جائز دي خو په دي شرط چي پښي یي له بیډیو سره پوښلی وي اوداسي تړل شوی وي چي پښه دومره تری ښکاره نشي چي دمسح مانع وي .

۳ : که په موزو (جرابو) دپاسه نوري په پښو شي په برنیو مسح کول جواز لري خو چي ذمسح شرائط یي پوره وي ، که دلاندنیو دمسح شرائط پوره وي اوکه نه وي خو چي سربیرنی په اودس پښو شوی وي .

۴ :که دلاندی داسي موزی (جرابی) په پښو شي چي دمسح دجواز شرائط یي پوره وي اوسربیره داسي چي شرائط پکښي پوره نه وي ، په برسیرنو مسح صحیح ده خو چي دومره نری وي چي اوبه تري تیریدلای شي ، په اصل کښي دامسح په لاندینو باندي ده .

۵ : که موزی دومره وړی وي چي بیلدی پکښي نه پټیدلی اوبله ټوټه یي وړباندی وګندله ، مسح وړباندی جانزده .

۶ : په زخم باندي په پټی مسح کول هغه دري صورتونه لري چي دمعذور په اودس کښي بیانیږي خو دموزو اودپټی دمسح ترمینځ توپیر دادي چي په موزو مسح کول ددریو ګوتو په اندازه کیږي خو دپټي یا پلستر په ټوله سطحه یا یي په ډیره برخه کیږي .

دمسح دباطلیدلو صورتونه

۱ : په کوموشیانو چي اودس ماتیږي په هغوي مسح هم ماتیږي بیا مسح کولو ته اړتیا پیښیږي . دمعذور شخص چي دوخت په تیریدلو اودس ماتیږي مسح یي هم ماتیږي ، معذور به هم پښي مینځي بیا به موزی په پښو کوي .

۲ : که موزه له پښي وخیژي اویا دپښي ډیره برخه له موزی وخیژي که هغه قصدا وي اوکه بي ارادي ، مسح باطلیږي موزی به کاږی اوپښي به مینځي .

۳ : که موزه داسي څیري شي چي که تر بیلدی لاندی وي اودتګ په وخت کښي دپښي هغه برخه ډیره تري ښکاره کیدله یا دګوتو خواته دومره څیری وه چي اندازه یي دریوګوتوته رسیدله ، یا دواړه خایونه سوري وو چي دتګ په وخت کښي ددریو ګوتو په اندازه پښه تري څرګندیدله مسح باطلیږي پښي به مینځي .

که موزه څو خایه څیري وه خو هرخای تر دریو ګوتو کمه اندازه وه خوټول څیري خایونه ددریو ګوتو اندازی ته رسیدل بیا هم مسح باطلیږي خوشرط داده چي داڅیري خایونه به په یوه موزه کښي وي . که په دواړو کښي دومره څیری خایونه وو چي ددریوګوتو اندازه یي پوره کوله بیا مسح نه باطلیږي . که خورا

واړه سوري په موزو کښې وو داسې چې پښه تارونه نه ترې تيريدل اعتبار نلرى که څه هم ډير وي که موزى څيري وي خودتګ په وخت کښې ددريو ګوتو په اندازه پښه نه ترى ښکاره کيدله مسح نه باطلوي ،که داڅيرى څاى زيات هم وي خوشرط پکښې دپښې دځرګندتيا اندازه ده .

۴ : که دپښې زياته برخه لمده شي په دي صورت کښې به موزى کاږي اوپښې به مينځې که دمسح موده تيره شوه ،موزى به باسي اوپښې به مينځې خوکه يخنى ډيره وه چې که موزى وباسي اوتودي اوبه نه وي . پښو ته زيان رسيده بيا دي نورة هم ورباندي مسح کوي اوهغه ترداسې وخته چې داويره يې لرې شي خو دامسح دپټۍ دمسح په څير ده يعني په ټوله موزه به مسح کيږي معنى داچې په اکثره برخه به مسح کوي او موزه به دجبيرې په ځاى وي .

يادونه :که ديوې موزى مسح باطله شوه دبلى هم باطله ده ،داسې جواز نلرى چې يوه پښه ومينځله شي اودبلى په موزه مسح وشي ، مثلا : يوه موزه دري ګوتى څيرى شي دواړه به کاږي ياپوه پښه لمده شوه دواړى به مينځې (علم الفقه ص ۸۰ ج ۱) .

که دچا پښې زخم وي

مسئله : که دچا يوه پښه زخم وه او په هغى يې پټۍ تړلى وه . اودس يې وکړ اوپه پټۍ يې مسح وکړه اويوه موزه يې په پښو کړه په دي صورت کښې په يوه موزه مسح کول جواز نلرى خوکه يې په پټۍ مسح وکړه اودواړى موزى يې په پښو کړى بيا ورباندىمسح جواز لرى (محيط السرخسي)

مسئله :که دچا په پښه زخم وو ، پښې يې ومينځلى اوموزى يې په پښو کړى ، اودس يې مات شو اوپه موزو يې مسح وکړه همداسې يې څولمونځونه وکړل

بیا یې موزې وایستلې ،معلومه شوه چې زخم بهیدلی دي اووینه تری راغلې ده خومعلومه نه وه چې څه وخت بهیدلی ده ، که دزخم سر وچ وو او دې شخص موزې سهار په پښو کړې وي ، نوډسهار لمونځ به نه راګرځوي اونور به راګرځوي.

مسئله : که دزخم سر په وینو لوند وو بیا دي کوم لمونځ نه راګرځوي (محیط

مسئله : که چا په زخم پټې کښېښوده ، پټې لمده شوه اودالمدوالی یې بهر راووست اودس یې ماتیږي خوکه لمدوالی بهر راوتلی نه وو اودس نه ماتیږي (فتاوی عالمګیري) .

مسئله :که پټې غبرګه وه څه لمدوالی تری راووت اوله څه برخې راوتلی نه وو بیا هم اودس ماتیږي (تاتارخانیه ، عالمګیري ص ۷۰ ج ۱) .

مسئله :که دچا په موزو بل شخص مسح وکړه جائز ده (محیط ، عالمګیري ص ۷۰ ج ۸)

په یوه موزه مسح کول

مسئله : داجواز نلرې چې په یوه پښه موزه په پښو کړې اومسح ورباندي وکړې اوبله پښه ومینځې که یوه پښه ومینځې دبلې مینځل لازم دي ، خودادپټې خلاف دي که یولاس یاپښه جبیره (پټې ،پلستر) ولري هغه مسح کړې دبل لاس یا پښې مینځل جائز څه چې فرض اوضر وري دي .

مسئله : که خوک موزې په پښو کړي اومنظمه مسحه ورباندې کوي په پاکی او طهارت کښې داسې دي لکه دصحیح اودس څښتن چې پښې یې مینځلې وي .

مسئله : که مسح کوونکې امام وو اومقتدې پښې مينځلې وې کوم حرج نشته او لمونځ يې بې شبهې صحيح دي (طهور المسلمين ص ۳۷).

دموزې دځيرې والې اندازه

مسئله : په موزه کښې يوه ضروري خبره داده چې هغه به ډيره ځيري نه وي ، دډيرو الې اندازه يې دپښو ددريو وړو ګوتو اندازه ده اوداصحيح ده (هدايه).

مسئله :داهم چې ددريو ګوتو په اندازه ځيري والې ښکاره وي ، که هغه ځيري والې دموزې په بهرنې يا کښتنې خواکښې وې اويا دشالورته وي دمسح مانع ده (محيط السرخسي) .

مسئله :که په موزه کښې دساق (تربيډې لوړ) ځيري والې وي دمسح مانع نه ده (خلاصه) .

مسئله :وړوګوتو ته هغه مهال اعتبار دي چې له ګوتو هاخوا کوم بل خاى ځيرى شي اوهغه ددريو وړو ګوتو اندازه وي ، که دبټې ګوتې اودغومره نوره اندازه ځيرى شى خو اندازه يې ددريو وړو ګوتو اندازه نه واوړى مسح وربانديكيږي .

مسئله :که دبټې ګوتې او دوو نورو ګوتو په اندازه موزه ځيرى شي مسح وربانديې نه کيږي خکه اندازه يې تر دريو وړو ګوتو اوړي .

مسئله : که دچا ګوتې غوڅې شوې وي دموزو دځيرى والې اندازه دبل چا دګوتو په اندازه اټکل کيږى (جوهر نيره) .

مسئله : که په يوه موزه کښي بيل بيل سوري وي هغه سره جمع کيږي خو که په دواړو موزو کښي سوري وي هغه نه سره جمع کيږي ، مثلا که په يوه موزه کښي ديوې اوپه بله کښي ددوو گوتو په اندازه سوري وي نه سره جمع کيږي اومسح ورباندی جائز ده .

مسئله :که په يوه موزه کښي يوه گوته سوري په وړاندينی برخه کښي وو ، ديوی گوتي په اندازه شانته اوديوي گوتی په اندازه اړخ ته وو مسح ورباندی نه کيږي (محيط) .

مسئله :که هغه سوري سره يوځای شي اودستني سپم غوندی شي يا ترهغه هم واړه وي اعتبار نلری.

مسئله :هغه سوری اعتبار لری چي پراخ وي دننه پښه تری ښکاره شی يا دحرکت په وخت کښي پښه تری ښکاری اوپه ولاړه کښي بند وي . خو که دننه تری څه نه ښکاره کيدل هغه اعتبار نلری اومسح ورباندی جائزه ده .

مسئله :که موزه له پاسه څيري شوه خودلاندی يي دڅرمني يا رخت استر ورسره گنډل شوی وو بيا مسح ورباندی جواز لري (تبيين) .

مسئله :که موزه .دڅرمنی جرابی يا جاروق (يوډول موزی دي) دپښو په پورتنی برخه کښي پرانستل کيدلی (څينځيري درلود) خوپښه يي پټوله دهغوی حکم دبندو موزو په څير دی . خوکه يي ډيره برخه خلاصيدله دموزی دسوريو حکم لري (فتاوی عالمگيری ص ۶۷ ج ۱ دزاهدی په حواله) .

مسئله :دموزی څیری والی ، لاندی باندی یا اړخ ته اعتبار لري ، که موزی ستري وي اوتربیدیو لوړی څیري وي دمسح مانع نه ده ځکه شرط تربیدیو پوری ده .

دمسح په هکله څومهمي مسئلی

مسئله : موزه که دپښو ددریو وړو ګوتو په اندازه څیري اوسوری وه مسح وربāندی جواز نلری.

مسئله : په موزه کی که دومره واړه واړه خایونه سوری وه چي هغه سره یوځای شي ددریو وړو ګوتو اندازه یي پوره کوله مسح وربāندی ناجانزه ده خوکه داسوری په دواړو کښي وو یعنی په دواړو موزو کښي دومره شول چي دري ګوتی کیدلی بیا مسح وربāندی جواز لري .

مسئله :په کومو شیانو چي اودس ماتیږي په هغوی مسح هم ماتیږي .

مسئله :که دمسح موده تیره شوه مسح باطلیږی خوکه هوادیره سړه وه بیانه باطلیږي ترهغه مسح کولای شی ترڅو یي ویره لیري کیږي .

مسئله :که دموزو دمسح موده پوره شوه خودشخص اودس وو پښي دي ومینځي نور اودس ضرور نه دي (مظاهر حق ص ۴۶۹ ج ۱) .

مسئله :چاچی داودس په ځای تیمم وهلی وو هغه ته په موزو مسح صحیح نه ده .

مسئله: چاته چي دموزو تر پښو کولو وراندی یا وروسته جنابت ورسید دهغه لپاره په موزو مسح صحیح نه ده ، خو که یي دجنابت لپاره تیمم اودحدث لپاره اودس وکړ اوپښي یي ومینځلی بیا یي په موزو مسح جایزه ده . خوکه یي اوبه وموندلی بیا ناپاکه دي اوغسل به کوي پښي به مینځي (مضرات) .

مسئله: که جنوب سړی غسل وکړ خودبدن یوه برخه یي ناپاکه پاته شوه ، موزی یي پښو کړی اوبیا یي هغه خای ومینځه ، په موزو یي مسح روا ده .

مسئله: که په اودس کښي کوم خای وچ تری پاته شو دهغه ترمینځلو وراندی یي اودس مات شو په پښو شویو موزو یي مسح جائز نه ده (عالمگیری ص ۶۶ ج ۱) .

مسئله: که یوه موزه وباسی یا په خپله وخیژی بله به هم کاږي اوپښي به مینځی .

مسئله: که دمسح موده پوره شوه باطلیږي ، که یي اودس وو ، موزی دي وو بیا دي پښي دي ومینځي او داودس کول ورته ضرور نه دي خو که اودس مات وو بیا دي ټول اودس هم وکړی .

مسئله: که ترمسح کولو وروسته موزی ته اوبه ورغلی ٠ پښه ترنیمه زیاته لمده شوه دواړه موزی دي بیرته وباسي پښي دي ومینځي ټول اودس ضرور نه دي (بهشتي زیور ص ۷۳ ج ۱) .

مسئله: که په چا باندی غسل واجب شو موزی دي وباسي غسل دي وکړي .

مسئله :که پرته له اودس څخه موزی په پښو شي مسح وربانذی جواز نلری ، که یې پوره اودس وکړ پښې یې ومینځلې او موزی یې په پښو کړي بیا وربانذی مسح جائزه ده .

که په موزو باندی مسح هیره شوه

مسئله : که له چا څخه په موزو باندی مسح هیره شوه ، بیا باران وشو اوموزی یې ددریو گوتو په اندازه لمدي کړی یا وابنه دباران یا شبنم په اوبو لوند وو وربانذی تیر کړ مسح یې وشوه (رکن دین صفحه ۲۵ دعالمگیری په حواله) .

یادونه :که مسح هیره شی اودس نه بشپړیږی اوچي اودس نیمگړی وي لمونځ نه کیږي ، همداسي که دمسح شرائط پوره نه وي مسح نه کیږي اوبیا لمونځ هم نه کیږي (محمد رفعت قاسمي) .

دموزو په مسح کښې غولول مه کوی

په پښو باندی مسح کول ضروری دی اوس دکم عقل خاوند هم دافکر نه کوی چي دلته نو خاص په پښو باندی مسح جایز ده ، بلکی هرڅوک پوهیږی چي په موزو باندی دمسح کولو حکم دي ، ځکه چي دموزو دمسح یادونه وشی نو هغه وخت به وربانذی مسح کوي چي په پښو وي همدا په عام عرف کښې په پښو مسح بلل کیږی .

همداسي اصطلاح بل ځای هم وي ، مثلا په سر یې داسي ووهي چي مات شی دلته مطلب دانه دي چي په لوڅ سر یې ووهي له همداسي محاوري سره برابر

ډیر احادیث راغلی دي چي رسول الله ﷺ په پښو مسح وکړه ، علی ﷺ په پښو مسح وکړه .

یوه اهل تشیع په چالاکي سره یوه رساله لیکلی وه پکښي لیکلی یي وو چي ماداهل سنت والجماعت له معتبروکتابونو څخه په اوداسه کښي په پښو مسح کول ثابت کړی دي .

دامام احمد ، بخاری اومسلم روایتونه یي رانقل کړی وو په هغوی کښي یي درسول الله ﷺ علی ﷺ او نورو صحابه وو داوداسه کیفیت رانقل کړی وو بیا یي ویلی وو چي رسول الله ﷺ په پښو مسح کوله .

بي خبره سنی حضرات حیران شول ، دخپل مذهب معتبر کتابونو نومونه یي ولیدل چي پکښي درسول الله ﷺ اوصحابه وو په پښو مسح کولو بیا ن یي پکښي ولید .

هغوی نه پوهیدل چي دلته دموزو دپښو کیدلو حالت یادشوی دي

(طهورالمسلمین ص ۳۸) .

یادونه :داپوهان نوباید داسي هم پوه شي که موزی په صندوق یابل ځای ایښي وي ، په پښو نه وي نومسح وربانذی کافی ده څکه په روایتونو کښي دپښو یادونه شوی نه ده یوازی موزی یادي شوي دي (محمد رفعت) .

مسئله :مسح علی الخفین له ډیرو صحابه وو څخه رانقل شوی دي خوپه ټولو کښي علماوو دحضرت جریر (رض) روایت ته اهمیت ورکړی دي .

جریر ﷺ دماندی په سورت کښي داودس کولو دآیت ترنزول وروسته مسلمان شوی وو چي مطلب پکښي دادی چي ددي ایت تر نزول وروسته رسول الله ﷺ په موزو باندی مسح کړی ده اوجریر (رض) لیدلی دي . له همدی امله په دي روایت دروافضو تردید کیږی چي مسح علی الخفین داوداسه په ایت سره منسوخ گڼي .

په هرحال په مسح علی الخفين باندی اجماع شوی ده ، له همدي امله په مسح علی الخفين باندی قائل کيدل داهل سنت والجماعت نبنه ده ، بلکی نن سبا خوداهل سنت والجماعت شعار دي (درس ترمذی ص ۳۲۹ ج ۱ دبحر په حواله) .

مسئله :که کوم فلج معذور موزی پښو کړی وي او ورته دتيمم ضرورت شو داودس کولو ورسره څوک نه وو ، تودي اوبه نه وي نو له دي کبله يي تيمم واهه دموزو دايستلو ارتيا يي نشته .
په درمختار کښي دتيمم دجواز لپاره داعذر يادشوی دي : (او لم يجد من يوضئه فان وجد ولوماجر مثل وله ذالك لا يتيمم الخ) (فتاوی دارالعلوم بحواله الدر مختار ص ۲۱۵ ج اول باب التيمم) .

په پټی دمسح کولو دليل

مسئله : په جبيره (پټی ، پلستر اونور) باندی دمسح دجواز دليل دادي چي دعلی ﷺ دلاس هډوکی داحد که دخيبر په جګړه کښي مات شوی وو ، رسول الله ﷺ علی ﷺ ته په لاس باندی دپټی دمسح کولو حکم ورکړ .

مسئله :امام اعظم رحمه الله لومړی په جبيره باندی مسح واجب بلله خو وروسته يي دصاحبينو په څير دهغی په فرض بللو قايل شو (درمختار ص ۴۸ ج ۳) .

دجبيری تعريف

دفقهاوو په اصطلاح هغی پټی ته ويل کيږی چي دناروغ په کوم غړی باندی تړله شوی وي يا هغه دوا چي ورباندی وهله شوی وي دبندولو لپاره يي داشرط نه ده چي هغه په لرګيو لښتو تړل شوی وي (ګواکی پلاستر اوبنداژ ټول پکښي شامل دي) .

داهم شرط نه دي چي دپټی لپاره دغړی مات والی ضروري دي ، نه دپټی حکم هغه وخت لری چي هغه غړی ته ناروغی رسیدلی وي ، که هغه زخم وي . ماتوالی وي یا دهډوکی درد وي.
لنډه داچی دفقهاوو په اصطلاح جبیره هغی پټی ته ویله کیږي چي دکوم مرض یازخم له امله په اندام تړله شوی وي یا دوا وربانډی وهله شوی وي نوکه اوبه وربانډی نشي استعمالولای وربانډی مسح کول فرض دي .
نوکه مکلف انسان په داسي غړی چي په اودس یا غسل کښي یي مینځل فرض وي کومه پټی (پلستریابل څه) وتړی یا وربانډی دوا ووهی اومینځل ورته زیان وي مسح وربانډی فرض ده .په داسي حال کښي دوا هم دپټی حکم لري .
که دوا ته مسح کول هم زیان رساوو سربیره دي وربانډی پټی وتړی اومسح دي کړی .که کوم ځای ته اوبه زیانمنی وي نو په هغه ځای مسح کول فرض دي .
که مسح هم ورته زیان رساوو پټی دي وربانډی وپیچی اومسح دي کړی (کتاب الفقه ص ۲۶۷ ج ۱) .

په پټی اوپلستر دمسح مطلب

مسئله : که کوم ځای مات شوی وي یا زخمی وي په اصل کښي دهغه ځای مینځل لازم دي په ځای یي مسح کیږي خوکه مسح کولو هم ورته زیان رساوو نو دي وربانډی پټی وتړی اومسح دي وربانډی وکړي که په پټی بانډی هم مسح ورته نقصان رساوو نو تری ساقطیږي یعنی نه یي مینځل لازم دي اونه هم مسح کول (درمختار ص ۵۰ ج ۳) .

مسئله :دپټی په زیاته برخه مسح کول کافی دي دټولی ځای نیسي .

مسئله :په پټی باندی دمسح کولو نیت شرط نه دي .

مسئله :په پټی باندی مسح کول نه په ټوله پټی شرط دي اونه څو واره مسح کول (درمختار ص ۵۱ ج ۳) :

مسئله :په مات شوی غړی لرگی (یا پلستر یابل څه) تړل ، دزخم پټی (پلستر و بنداژ) داغ ، دوینی دکښلو ځای یا نور زخمی ځایونه مسح کول دهغوی دمینځلو حکم لری (درمختار ص ۳۸ ج ۳ باب المسح علی الخفین)

په پلستر باندی مسح صورتاً ده

یو په موزو باندی مسح ده ، هغه په حقیقت کښي مسح ده ، بل په جبیره (پټی) مسح ده ، هغه صورتا مسح ده په حقیقت کښي هغه دمینځلو په حکم کښي دي ، په دي دوو مسحو کښي توپیر شته ، دجبیری مسح حکما مسح نه ده ، دامسح له مینځلو سره یوځای کیدلای شی ،که یوه پښه زخمي وه ، په هغی مسح کیږي اوبله مینځله کیږی ، داصورت صحیح دی ، خوداسي جواز نلری چي یوه موزه وباسي اوهغه پښه ومینځی او په بله مسح وکړی .....
(درمختارص ۴۹ ج ۳) .

په زخم باندی دمسح شرطونه

مسئله : په ټوله پټی باندی مسح کول شرط نه دی ، په اکثر برخه باندی مسح کافی ده ، مثلا که زخم په ټول لاس باندي وي په هغه یي پټی اینښي وي که دهغی تر نیمی په زیاته برخه مسح وشی نوکافی ده .
که پټی تر خوړ ځای زیاته تړله شوی وي ، نو دوه صورته دی ، یا به دپټی پرانستل ورته زیانمن وي اویا به نه وي ، که یي زیان نه درلود نوپرانستل یي واجب دي اوکه ترې لاندی برخه ضرر نه درلود مینځل یي ضرور دي که یي

مینخل خوږ ځای ته زیان رساوو نو په خوږمن ځای به مسح کوي او روغ ځای به مینځی . که مسح کولو بیا هم زیان درلود روغه برخه دي ومینځی .
که دپټی پرانستل خوږمن ځای ته زیان رساوو په پټی سربیره دي مسح کوي .پټی دي نه پرانیزی که څه هم تری لاندي مینځل یامسح کول امکان ولری .
په همداسي حالت کښي په پټی په ډیره برخه مسح وشي کافی دي
(کتاب الفقه ص ۲۷۰ ج ۱) .

ایا په خوږ ځای مسح کیږي که په ټول غړي ؟

پوښتنه : که دکوم غړی یوه برخه یا ټول زخم وو مثلا پښه ، نو په ټوله پښه به مسح کیږی اوکه یوازی په هغی برخه چي خوږ ده ، که په ټوله پښه مسح وشی لمونځ صحیح دي ؟ څوک وایي چي مسح یوازی دپټی په برخه کیږی نورمینځل کیږي .

جواب :په ټولو صورتو کښي مسح په هغی برخه کیږي کوم چي زخم وي او روغه برخه مینځل کیږی . خو که ډروغی برخی اوبه په خوږ ځای راتلی اوزیان یي ورته رساوو بیا په ټوله حصه مسح کول صحیح دي ، که دروغی برخی اوروغ ځای به مینځی . که دپټی په منځ کښي کمه حصه لوڅه وه وربانـدی مسح دي کوی . تر پټی لاندی که څه کمه برخه روغه وه مسح وربانـدی صحیح ده . نوره عضو به مینځی (فتاوی دارالعلوم ج ۱ ددرمختار په حواله)

که په لاس . پښو زخم وو مسح به څه ډول کوي ؟

پوښتنه : که په لاس اوپښه زخمونه وو او اوبو زيان رساوو مسح به څرنګه کوي ؟ که پټي ترزخم زياته وه يا غسل ته اړتيا وه څرنګه به يي کوي ؟

جواب :که په مينځلوکښي دزيان انديښنه وه، مسح دي وکړي ، په مسح کښي دي وربانډی لوند لاس تير کړي .
لومړی خوداحکم دي چي که په زخم باندی له پټي پرته مسح کول زيانمن نه وو ، مسح دي کړي که څه هم ځيني ځايونه يي مسح پاته شي ، که زخم ته لوند لاس زيان رساوو په پټي دي مسح وکړي ، خواوشا که څه ځای پاته شي کوم حرج پکښي نشته ، لاس دی په ټوله برخه تيروی که څه هم له ځينو برخو سره اوبه نه لګيدلی ، همدامسح صحيح ده ، که پټي تر زخم زياته وه اوټوله پټي مسح شوه صحيح ده ،که دغسل اړتيا وه ، په زخم دي مسح وکړي او نور بدن دي ومينځي (فتاوی دارالعلوم ص ۲۹۷ ج ۱ در المختار په حواله) .

مسئله :که په زخم يا پټي هم مسح نشوای کيدلای بيا تيمم صحيح دي (فتاوی دارالعلوم ص ۲۴۶ ج ۱) .

دزخم په مسح کولو کښي سړی اوميرمن سره برابر دي ؟

مسئله : په پټي باندی دمسح او ورسره اړونډ مسئلو کښي ، سړی ، ميرمني ، ځوک چي بی اودسه وي يا غسل وربانډی لازم وي سره برابر دي ، يعنی دامسئلی دټولو معذورانو لپاره دي .

په جبیره باندي دمسح کوونکي امامت

مسئله : د جبیرې (پټی ، پلستر ، دزخم کالی) لپاره دمسح وخت مقرر شوی نه دي څکه دامسح دمینځلو په ځای ده ، تردي چي په جبیره باندي دمسح کوونکی امامت دروغو کسانو لپاره صحیح دی اودعذر څښتن نه دي (درمختار ص ۵۰ ج ۳) (طهور المسلمین ،کتاب الفقه) .

دزخم دروغوالي په حالت کښي دمسح حکم

مسئله : که پټی دزخم دروغتیا له کبله ولویدله په خپله مسح باطلیږی اوکه زخم روغ نه وو اوپټی ولویدله بیا مسح نه باطلیږی . خو موزه که په هرډول له پښې وخیژي مسح باطلیږی ، که پټی په لمانځه کښي دروغوالي له امله ولویدله لمونځ به راګرځوی اوکه دپټی لویدل مضروو مسح نه باطلیږی .
(درمختار ص ۵۱ ج ۳)

مسئله : که ناروغ پټی بدله کړه یا برسیرنه پټی ولویدله په دوهمه پټی مسح کول واجب نه ده ، البته مستحب ده (درمختار ص ۴۹ ج ۳) .

مسئله :که زخم روغ نه وو اوپټی ولویدله ، که په لمانځه کښي وه که بهر مسح بي نه باطلیږی .

مسئله : که په لمانځه کښي دزخم دروغوالي له امله پټی ولویدله او دوروستني قعدی دتشهد دلوستلو تر اندازی وړاندی ولویدله لمونځ ونه شو ، په دي صورت کښي به دپټی ځای مینځي او لمونځ به دوهم ځلی کوی .خوکه په وروستني قعده کښي دتشهد دلوستلو تر اندازی کښیناستلو وروسته .

ولویدله نو دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله رایه داده چی لمونځ یې ونشو خو صاحبین رحمها الله وايي چي لمونځ وشو . ځکه دامهال لمونځ ختم شوی دي او پټی وروسته لویدلی ده (کتاب الفقه ص ۲۷۲ ج ۱ عالمگیری ص ۶۹ ج ۱) .
خو په دي موضوع کښی فتوی دصاحبینو په قول ده . (عالمگیری ص ۷۱ ج ۱) .

په جبیره باندی دمسح لپاره اودس ضرور نه دي

مسئله : په جبیره (پټی ، پلستر) یا په زخم باندی په کومه توګه مسح کول دلاندینی برخی له مینځلو سره برابر دي . دهغه بدل نه دي . آن که په یوه پښه پټی وه هغه مسح کیږی اوبله پښه مینځل کیږی . ددي مسح لپاره کومه موده معلومه نه ده اونه دافرق لری چي پټی په اودس تړلی شوی ده اوکه په بی اودسه حالت کښی .

مسئله :په کوچني اوستره بې اودسي کښی په جبیره (پټی ، پلستر) مسح کیدلای شي . (کوچنی حدث بی اودسي اوله ستری بی اودسي څخه مطلب دغسل لازم والی دي) .
په دي مسح کښی په اتفاقی خبره سره نیت شرط نه دي (بحر الرائق) .

مسئله : مسح یوځل کفایت کوي اوداصحیح ده (محیط) .

مسئله : پښی مینځل اومسح کول نه سره یوځای کیږی.
(کافی ، فتاوی عالمگیری ص ۶۹ ج ۱)

په زخمي نوکانو مسح کول

مسئله : که نوک مات یا زخم وي او دوا وریاندي کښیښودل شی ، که هغه تري لیري کیږي نو زیانمن وي ، مسح دي وریاندي وکړی ، که مسح هم ورته زیان رساوو پري دي ایږدي دزخمی اندامونو په هکله هم که ممکن وو اوبه دي وریاندي وبهوي اوکه نه مسح دي کړی اوکه هغه هم زیان ورته رساوو پري دي ایږدي خو روغه برخه دي ومینځی .

مسئله :که دچا گوته زخم وه ، په هغی یي ملهم کښیښودل اوهغه تر زخم زیاته برخه ونیوله داودس کولو په وخت کښي که په ټوله پټی مسح وکړی جائز ده (عالمگیری)

پوښتنه :که چا په کوم خوږمن خای پلستر لګولی وي ، که یي په اودس یا غسل کښی واړوي کوم زیان نلری خو کومه دوا چي یي لګولی ده هغه دپلستر په اړولو لیري کیږی ، یا بیا پلستر نه موندل کیږی یا یي بیه لوړه ده نو په داسي صورتونو کښی دهغه اندام مینځل ضروري دي اودبي لوړوالی کوم حد او اندازه لري ؟

جواب : ددرمختار دلومړی ټوک په ۲۶۰ مخ کښي راغلی چي که دپلستر خلاصول زخم ته زیان رساوو نو پرانستل یي ضروری نه دي ، وریاندی مسح کول کفایت کوی اوهغه پلستر دجبیری (پټی) حکم لری که یي لیری کول زیانمن نه وو ، قیمت یي هم لوړ نه وي خو تش لاسي وي بیا هم وریاندي مسح جواز لری . (احسن الفتاوی ، عالمگیری) .

که پټی ترمسح وروسته واوښتله

پوښتنه : چا دزخم په پټی مسح وکړه اوهغه واوښتله ، بله پټی یي ورکړه ایا بیا مسح ورباندي کیږي ؟

جواب : دپټی په لویدلو سره مسح نه باطلیږی خوکه زخم جوړ شوی وو نو مسح ماتیږي اودهغه خای مینځل ضروري دي (احسن الفتاوی ص ۶۳ ج۲) ردالمحتار په حواله) .

مسئله :که سربیرنه پټی واوښتله په لاندینی باندی بیامسح ضروري نه ده خو مستحب ده (تیر ماخذ) .

پوښتنه : که دچا په مخ باندی تپ وو ملهم یي ورباندي کښیښودل ورباندي توته یي ولګوله ، داودس کولو په وخت کښی به هغه توته لیری کوي اوکه به په هغی مسح کوي ؟

جواب :که زخم ته اوبو زیان رساوو او دتوتی لیری کول تکلیف وو نو هغه توته دي نه لیري کوي او ورباندی مسح دي وکړی (احسن الفتاوی ص ۶۴ ج ۲) .

مسئله :دزخم په خای دي مسح کیږي که مسح هم زیان رساوو بیا معاف ده مسح دئ هم نه کوي (تیر ماخذ) .

دپښو په زخم مسح کول

مسئله : که دچا نوک مات شوی وو ، دوا یي وربانده ولګوله یا په پښه کښي زخم وو او دوا یي وربانده ووهله ، حکم یي دادي چي په اودس کښي هغه ځای ومینځي .که داوبو بهیدل ورته زیان رساوو په هغه ځای دي مسح کوي اوکه هغه هم زیانمنه وه بیا دي پریږدي یعنی نه دي مینځي اونه دي وربانده مسح کوي دواړه دشرعی عذر له امله ساقطیږي (درمختار ص ۵۱ ج ۳) .

یادونه :که په زخم ځای لوند لاس تیرول زیان رساوو نو په پټی دپاسه دي مسح وکړی (محمد رفعت) .

دسر درد په مهال مسح کول

مسئله : که دچا سر دومره درد کاوو چي داودس په مهال یي وربانده مسح کولای نه شوای اونه یي دغسل په وخت کښي مینځلای شوای ، هغه شخص دي داودس اوغسل په ځای تیمم ووهی . همدا شان دسر دمسح فرضیت ورځخه ساقطیږي که په سرباندی پټی لګیدلی وه دسرمسح فرضیت ورځخه ساقطیږي ، که په سر باندی پټی لګیدلی وه پر مسح کول لازم دي .

مسئله :همدا شان دسر مینځل هم ساقطیږی . هغه دي مسح کړي ،که مسح هم زیان رساوو دواړه ساقطیږی . ددي شخص حکم داسي کیږی لکه سر چي نه لري اودامسح داسي ساقطیږی لکه اصلا چي هغه عضو نه وي (درمختار ص ۳۲ ج ۳) .

په دانو باندې مسح کول

که دچا په مخ باندي دانې وي وینې او نوونه ترې بهیدل ،داودس کولو په وخت کښې يې په مخ وینې بهیدلې نو په داسې حالت کښې به هروخت تیمم وهي اولمونځ به کوي ؟

جواب :که ربښتیا هم تکلیف دومره ډیر وو چې نه وربانډې اوبه بهیدلای شوای او نه يې مسح وربانډي کولای شوای تیمم دي وهي (سنامو مسائل ص ۶۵ ج ۲).

مسئله :که په دوارو لاسونو دانې وي اوهغوی ته اوبو زیان رساوو نو تیمم ورته صحیح دي ، که يې داودس کولو لپاره بل چا مرسته کوله نو دتیمم په جواز کښې اختلاف دي غوره او احوطه خبره عدم جواز دي (احسن الفتاوی ص ۵۶ ج ۲).

که په زخم پټې تړلی وه اوترې لاندې وینه وه

پوښتنه : له زخم څخه وینه بهیدله ، پټی يې وربانډې ولګوله ، ترې لاندې وینه راوتله خو ترپټی نه راوتله ، آیا په دې وینه اودس ماتیږي ؟

جواب :که دومره وینه راتله چې نه بندیدله اوبهر راوتله اودس ماتوي (فتاوی رحیمیه ص ۲۶۹ ج ۴).

په پلستر باندې دمسح کولو مسئلې

۱ : که دکومې ناروغتیا له امله یوه حاذق ډاکټر دچا دکوم غړی له مینځلو ممانعت وکړ دهغه ځای مینځل فرض نه دي که مسح ورته زیانمنه نه وه مسح دې کړي اوکه هغې هم زیان درلود مسح هم ورته معاف ده .

۲ : په اوداسه کښي چي دکومو غړو مينځل فرض دي که په هغوی کښي زخم وو يا درد يابل تکليف وو ، که اوبه ورته زيانمني نه وي مينځل يي فرض دي اوکنه مسح دي ورباندي وکړي ، که مسح هم ورته نقص رساوو هغه دي هم نه کوي (درمختار) .

۳ :که لاسونه زخم وو يا ورباندی پټی لګيدلی وي اولاسونه يا يي په لاسونو نور اندامونه مينځلای نشوای تيمم دي وکړی ، که يي کولای شوای .

۴ :که دکومي ناروغتيا له امله چا په لاس ، پښو يا مخ باندی دوا وهلی وه ، که يي زيان نه رساوو نو مينځل يي فرض دي ،که هغه دوا ترمينځلو وروسته ليري شوه ، که دروغوالی له امله ليری شوي وه ، نوره مسح ورباندی نه کيږي اوهغه خای به مينځي .

۵ :که دچا لاسونه له څنګلو اوپښی له بيډيو سره غوځی شوی وي په داسي حالت دلاس اوپښو مينځل ورباندی فرض نه دي که مخ هرڅرنګه مينځلای شي اودسر مسح کولای شي خو بنه کنه هغه هم فرض نه دي ، مخ دي دتيمم په نيت په ديوال يابل څه پسي ومښي .

۶ :که دچا لاس ياپښه غوڅه شوی وه ، څنګله ياڅه زياته برخه يابيډی ياڅه زياته برخه پاته وه مينځل يي لازم دي خکه تر هغوی لاندی برخه اودهغوی مينځل فرض دي .

۷ :که لاسونه له څنګلو اوپښي له بيډيو سره غوڅی شوی وي .مخ زخمي وو ، مينځل اوياًمسح يي ممکن نه وه ، په داسي صورت کښي اودس کول فرض نه دي .

۸ :که چا له څه امله دواړه غوږونه یوځای مسح کولای نه شوای ، یا یي پولاس وو یا یي پولاس بیکاره وو ، هغه دي لوموړی ښی اوبیا کیڼ غوږ مسح کړی .

۹ : په اودس کولو کښې چي کوم غړی مینځل کیږی ، که هغه مات وو ، زخمي یا وربانډی پټی تړله شوی وه ، هغه دري صورتونه لري :

لومړی صورت : دپټی خلاصول مضر وو ، اوبه که مضري وي اوکه نه وي ، په دي صورت کښې که په پټی مسح کول زیانمن نه وو ، په ټوله پټی به مسح کوي ، که هغه به زخم ځای ده اوکه په روغ ځای . که دزخم روغی برخی ته زیان رسیده ، هغه دي هم پریږدي .

دوهم صورت :دپټی خلاصول مضرنه وو ، خو تر پرانستلو وروسته یي نه په خپله تړلای شوای اونه بل څوک وو ،مسح دي کړی ،که مسح هم ضرر رساوو هغه هم ورته معاف ده .

دریم صورت :دپټی پرانستل مضر نه وو اوبیا یي تړلو هم ستونزه نه درلوده نوکه اوبو ورته زیان نه رساوو پټی دي پرانیزی او زخم دي ومینځی ،که زخم ته زیان رسیده هغه دي پریږدي نوره عضوه دي ومینځی ،که زخمی برخی ته مسح زیان نه رساوو مسح دي کړی اوکنه پټی دي وربانډی وي،که زخمی برخی ته مسح زیان نه رساوو مسح دي کړی اوکه نه پټی دي وربانډی وتړی بیادي مسح کړی که بیاهم ضرر رسیده هغه هم ورته معاف ده .

۱۰ : که پټی داسي تړله کیدله چي په مینځ کښي یي دجسم روغه برخه هم راتلله په ټوله پټی دي مسح وکړی ، داپه هغه صورت کښې چي که دپټی پرانستلو اودهغه ځای مینځلو زیان درلود .

۱۱ :که دپښې دپاسه بله پټۍ تړله شوی وه ، په هغې هم مسح جائزه ده (علم الفقه ص ۶۴ ج ۱) .

دموزو اوپلستر دمسح ترمينځ توپير

مسئله : که کومي داني يا زخم وي اوهغه يي مينځلای نشوای يا يي مسح هم وربانډی کولای نه شوای يعنی همدغومره کمو اوبو هم وربانډی بده اغيزه کوله يا دپښې په ليری کولو کښې تکليف ډيريده نو په پټۍ اوپلستر مسح جايزه ده ، که څه هم تري لاندي ملهم ناپاکه وو په همدي مسح اودس کيږي خو دناپاکی له امله لمونځ نه کيږي .

مسئله : که ناپاکه ملهم ديوه درهم (دري ماشي) څخه زيات نه وو لمونځ هم ورسره کيږي (هداية) .

مسئله :که په سړو اوبومسح نقصان رساوو په تودو اوبو دي مسح وکړی ، که ددوو پټيو ترمينځ څه اندازه لوڅه پاته وه که يي مينځلو پټۍ ته تاوان رساوو هغه دي هم مسح کړی .

مسئله :که يي ترپټۍ لاندی په زخم مسح کولای شوای خو په اړولو يي بيا بله پټۍ پيداکولای نه شوای نو په پټۍ مسح صحيح ده .
په موزو باندی دري گوتی مسح صحيح ده ، خو په پټۍ باندی شرط داده چي په ټوله به مسح کوي ، يعنی کوم خای چي نشي مينځلای په هغه ټول به لوند لاس راکاږي .

مسئله :په پټي کښې داشرط نه ده چي په اوداسه باندې وتړله شي ،بلکې چي ضرورت پيښ شو تړله کيږي او داودس کولو په مهال وربانډې مسح کيږي . په پټي هغه مهال مسح جايزه ده چي په زخم مسح کيدلای نشي .

مسئله :که دزخم تر روغتيا وړاندې پټې ولويدله يا يې پرانستله مسح نه باطليږي لومړنې مسح کافي ده بيا مسح ضرور نه ده (دادموزې خلاف ده) .

مسئله : که لومړنۍ پټې بدله شي ، بله وربانډې وتړې بيا مسح وربانډې ضروري نه ده خومستحب ده چي بيا مسح شي .

مسئله : دزخم يا پټي دمسح لپاره کومه موده مقرره نه ده بلکې ترڅو ضرورت وي ترهغه دي وربانډې مسح کوي .

مسئله :داودس له ماتيدلو سره ، مسح هم باطليږي چي نور اودس کوي همدا مسح به هم ورسره کوي .

مسئله :که زخم روغ شي مسح هم باطيږي ، .که يې اودس وو اوزخم روغ شو يوازې هغه ځای مينځل کافي دي ، ټول اودس کول ضرور نه دي .

مسئله : لکه څرنګه چي په اوداسه کښې په زخمي ځای مسح کول جائز دي همداسې په غسل کښې هم په زخم مسح کول روا دي . مثلا که په سر ، ملا يا مټ زخم وي په هغه دي مسح کوي اونور بدن دي مينځي ، که يې په زخم مسح کولای نه شوای پټي دي وربانډې وتړې په هغې دي مسح وکړي ، دغسل په ځای مسح هغه وخت باطليږي چي بيا غسل واجب شي اويا زخم روغ شي .

مسئله :که ترنیم بدن زیات زخمي وو ، په زخمونو به مسح کوي دنور بدن مینځل ضرور نه دي ، تیمم ورته کافي دي ، که په پټی مسح کولو زیان درلود یا یي روغتیا ځنډوله بیا هم مسح معاف ده .

مسئله : ترڅو چي ضرورت وو خواوشادي مینځي اودپلستر ځای دي پریږدي

مسئله : که لاس یا پښه زخم شول ، موم ، وازگه ، واسلین یا بله دوا یي وربانديي ووهله ، که دهغی په لیری کولو اومینځلو کښي تکلیف نه وو .
هغه دي لیري کړی ، هغه ځای دي ومینځی اوکه تکلیف وو په هغوی دپاسه دي اوبه تیری کړی همدا کافی ده (طهور المسلمین ، فتاوی دارالعلوم اوعالمگیری).

یادونه : په جبیره (پټی ، پلستر یابل څه) باندي مسح دموزو له مسح څلور توپیره لري :
اول : که پټی دروغتیا له امله ولویدله یوازی هغه ځای مینځل کیږي خو موزه که یوه هم وایستله شي ددواړو پښو مینځل ضروري دي .
دوهم : که پټی پرته دزخم له روغتیا څخه ولویدله بیا دي بنده شي دمسح اعاده ضرور نه ده .
دریم : دجبیری دمسح دوخت حد معلوم نه دي .
څلورم : په زخم دپټی تړل په اوداسه سره شرط نه دي . که پرته له اودس څخه وتړله شي مسح وربانډی صحیح ده ، اودس ورته شرط نه دي (محمد رفعت)

دمعذور دلمانځه طریقه

مسئله :٪دمعذور لپاره غوره طریقه داده چي دلمانځه لپاره ستوني ستخ پریوزی ، پښي قبلی ته کړي ، زنګونه ودروي ، سر څه اندازه لوړونیسي ترڅو یي مخ قبلی ته برابر شي .
دااختیار هم شته چي پر ښي یاکیڼ اړخ څملی اولمونځ وکړی ښی اړخ تر کیڼ اړخ غوره (افضل) دي .
داټول صورتونه په هغه حال کښی دي چي وربانډی قادر وی ،که یي داسي کولای نشوای نو چي څرنګه ورته ممکن وي هغسي دي لمونځ وکړی (کتاب الفقه ص ۸۰۳ ج ۱) .

یادونه :دیوه لمانځه فدیه پاوکم دوه کیلو ګرامه غنم یا دهغوی بیه ده ، په یوه شپه او ورځ کښي له وترو سره دټولو لمونځونو فدیه لس نیم کیلو ګرامه غنم یا یي بیه ده (محمد رفعت قاسمي غفرله) .

دژباړی پای ۱۳۸۵\۵\۲۴ هـ ش (ریان)

اللهم اغفرلمؤلفه ولمترجمه ولکاتبه ولکل من سعی‌فیه امین ثم امین

دلاس ته راوړلو ځايونه

- په خپله مکتبه رشيديه کويټه
- مکتبة العرفان کانسي روډ کويټه
- مکتبه محمديه کانسي روډ کويټه
- مکتبه نورالقرآن پښتون اباد خدايدادچوک کويټه
- اسلامي کتاب گهر ستلائټ ټاؤن گول مسجد
- کليم استېشنرز مسلم باغ
- مکتبه نشرالقرآن نعيم مارکيټ قلعه سيف الله
- مکتبه عبدالعزيز ژوب
- مکتبه شاه محمد ژوب
- جديد کتب خانه وانه
- الفريدي کتب خانه خانوزئي
- مکتبه محموديه نزد ډاکټر نسيم کلينيک پښين
- مکتبه اسلاميه پښين
- مکتبه رشيديه لورلائي
- مکتبه سراج الدين دکي
- طالب جنرل ستور دکي
- ضياء القران کتب خانه بوغره روډ چمن
- مکتبه حقانيه بوغره روډ چمن
- اسلامي کتب خانه تاج مير روډ چمن
- مکتبه علوم اسلاميه تاج مير روډ چمن
- دارالاخلاص محله جنگي پېښور
- مکتبه غفاريه ارگ بازار قندهار
- مکتبه رشيديه سنگين بازار هلمند